

د خالق او مخلوق

ترمنځ دواسطی پیژندل

د «الواسطة بين الحق والخلق»

پيشتو ترجمه

Kingdom of Saudi Arabia
The Cooperative Office For Call And Guidance
To Communities at Um Al-Hammam
Under the Supervision of the ministry of Islamic Affairs
Endowment Guidance & Propagation
Tel. 4826466 / 4884496 Fax 4827489 - P.O. Box 31021 Riyadh 11497

Pustu
28

Ketabton.com

Downloaded from: ketabton.com



الواسطة
بين الخالق والمخلوق

تأليف

شيخ الإسلام ابن تيمية «رحمه الله»

(بلغة البشتو)

المملكة العربية السعودية

المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بأم الحما

تحت إشراف وزارة الشؤون الإسلامية والأوقاف والدعوة والإرشـ

ت: ٤٨٢٦٤٦٦ / ٤٨٨٤٤٩٦ فاكس ٤٨٢٧٤٨٩ - ص.ب ٣١٠٢١ الرياض ١١٤٩٧

بشتو

٢٨

Downloaded from: ketabton.com

قُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ وَسَلَامٌ عَلَىٰ عِبَادِهِ الَّذِينَ اصْطَفَىٰ ۗ آللَّهُ خَيْرٌ أَمَّا يُشْرِكُونَ
«سورة النمل: ۵۹»

دخالق او مخلوق

ترمنځ دواسطې پېژندل

د «الواسطة بين الحق والخلق»

پښتوترجمــــه

مؤلف: شيخ الإسلام ابن تيمية «رحمه الله»

«٦٦١ - ٧٢٨ هـ ق»

ژباړن : قاضي محمد شعيب «صافي»

Downloaded from: ketabton.com

ح المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد بحائل ، ١٤١٨هـ

فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر

ابن باز ، عبد العزيز بن عبدالله

الواسطة بين الخالق والمخلوق .ـ حائل .

٩٦ ص ؛ ١٢ × ١٧ سم

ردمك : ٢ - ٤ - ٩١٨٧ - ٩٩٦٠

(النص بلغة البشتو)

١- العقيدة الاسلامية ٢- الايمان (الاسلام) أ- العنوان

ديوي ٢٤٠ ١٨ / ١٨٦٥

رقم الايداع ١٨٦٥ / ١٨

ردمك : ٢ - ٤ - ٩١٨٧ - ٩٩٦٠

دكتاب نوم : دخالق او مخلوق ترمنځ دواسطې پېژندل

مؤلف : شيخ الاسلام احمد بن عبد الحليم بن عبد السلام ابن تيمية رح ٦٦١ - ٧٢٨ هـ ق

ژباړن : قاضي محمد شعيب (صافي)

ناشر : مكتبة الامام محمد بن اسماعيل البخاري جهانګيرآباد نمبر ٣ شيخ وله پښاور پاکستان -

دچاپ نېټه ٤/ جمادى الثاني - ١٤١٥ هـ ق

دچاپ شمېر (١٠٠٠) ټوکه

Downloaded from: ketabton.com

فهرست

د موضوع سرلیک (عنوان)	مخ
د ژباړن سریزه	الف
د مصنف لنډه پیژندنه	ج
د ځیرونکي سریزه	۱
د الله (ج) او بندګانو ترمنځ د واسطې معنی	۱۸
چاچې قرآن ولوستلو او عمل یې ور باندې وکړ....	۲۰
رسولان د الله او بندګانو ترمنځ د احکامو رسولو په برخه کښې واسطې دي	۲۴
غیر مشروع واسطه	۲۹
فرښتو او انبیاؤ سره د تکلیف لرې کولو واک نشته	۳۱
په الوهیت سره د فرښتو او انبیاؤ نیول کفر دی	۳۳
علماء د رسول الله صلی الله علیه وسلم او امت ترمنځ یې یواځې د اسلام....	۳۵
د خلقو او پاچایانو ترمنځ واسطې په درې ډوله دي	۳۹
شفاعت د الله پاک د اذن پورې اړه لري	۴۳
د امت په حق کښې د اعلی له طرفه دعا غوښتل او دغه راز بالعکس دواړه مشروع طریقې دي.	۵۳
دعا داعي او مدعو له دواړو ته ګټه رسوي	۵۷
په الله باندې توکل او یواځې د الله نه ځنې ویره او امید ساتل د توحید څخه عبارت دي.	۶۶
هغه اشیاء چې الله پیدا کړي دي انکار ترې نشي کیدای.	۷۵

Downloaded from: ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحيم

د ژباړن سريزه

نحمده و نصلي على رسوله الكريم، امابعد:

دا ښکاره او يقيني خبره ده چې د انسان د خلقت او پيدايښت څخه اصلي مقصد هم دا دی چې دی به د الله تعالی عبادت او بندګي کوي، او د سورة ذاريات دغه مبارک ايت (وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ) ددې مدعی د ثبوت يو څرګند دليل دی، ځکه په دغه مبارک آيت کښې الله تعالی فرمايلي دي: او نه دي پيدا کړي ما پيريان او انسانان مګر ددې لپاره مې پيدا کړي دي چه ځما عبادت وکړي. - او انسان هله د کمال مرتبې ته رسيږي چې د الله تعالی په عبادت او بندګۍ کښې د الله پاک د حکمونو مطابق په سيې او حقيقي معنی سره عبد جوړ شي.

همدارنګه په دې کښې هم شک نشته چې انسان يو معزز او مکرم مخلوق دی. او لکه چې الله پاک فرمايي: (وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ..... الايه (١)

(١) اسراء : (٧٠)

Downloaded from: ketabton.com

په څکه کښې د نورو مخلوقاتو په نسبت سره په جسمي او معنوي لحاظ د نورو صفتونو لرونکی او د ژیاتو ځانګړتیاوو څښتن دی، چې په دغو ټولو ځانګړتیاوو او صفتونو کښې یې بیا عقل د پام وړ امتیازي صفت دی چې الله رج، په ده باندې د هغې پیرزونه کړې ده.

اما بیا هم انسان د عقل او نورو خصوصیاتو په لرلو سره نشي کولای چې د الله پاک د بندګۍ او عبادت اقسام، او همدارنګه د عبادت کولو کیفیت او طریقه وپیژني او بیا په هاغه طریقه باندې د خپل خالق په وړاندې په عبادت کولو باندې مشغول شي، او عبادت یې د الله تعالی د رضا حاصلولو سبب وګرځي، او بالاخره بیا هغو جنتونو ته د ننوتلو جوګه شي د کوم وعده چې الله پاک د نیکانو او مطیعو بندګانو سره کړې ده.

پس د همدغه ضرورت له مخې الله پاک انبیاء علیهم السلام را ولیږل، ترڅو د وحې په رڼا کښې انسانانو ته لار ښوونه وکړي او همدوی په دنیا کښې د هدایت حاصلولو په برخه کښې د یواځنۍ

= اویقینا عزت ورکړه شوي دي مونږ
اولاد د آدم ته او سواره کړي دي مونږ دوی لره په وچه او دریاب کښې.

Downloaded from: ketabton.com

مرجع په توګه سره و پیژندل شي.

د اسلامي امت ستر لارښود محمد رسول الله صلی الله علیه سلم په ټولو انبیاؤ کښي اخرني او غوره پیغمبر دی او کوم کتاب چي په ده باندي نازل شوی دی هغه د ټولو اسماني کتابونو په نسبت جامع او اکمل دی، او شریعت یې کامل او مکمل دی.

پس په دغه کامل او مکمل شریعت کښي خلقو ته د دي موقع نه ده ورکړل شوي چي د وی په شرعي امورو کښي د شرعي اصل څخه پرته، د عقل او فاسد قیاس څخه کار واخلي. ولي متاسفانه بیا هم یو زیات شمیر خلق د وسیلي متعلق په دي عقیده دي چي الله پاک ته د ذواتو فاضلو واسطه کول یو ضروري او لازمي امر دی! دوئ په دي برخه کښي د خپل ناقص عقل او فاسد قیاس څخه کار اخلي او وایي:

دلته په دنیا کښي د حکومتونو تعامل او طرز العمل داسي دی چي کله والیانو، وزیرانو او نورو دولتي مشرانو ته غوښتنلیکونه یعني عرائض د واسطو د سفارش نه پرته د عارضینو له خوا نیغ په نیغه وړاندي شي، نو بیا کله داسي وي چي هغه هیڅ د مسؤل مقام د پام لاندي راځي نه، او کله

Downloaded from: ketabton.com

داسې دې چې د عارض په کمته په کښې کوم مثبت او اغیز من اجراءات صورت نه نیسي، د غه راز دوئ وايي: کله چې څوک واسطه د نه لري نو صدر اعظم، رئیس جمهور او پاچا ته يې په یوا ځې ځان ورد تللکه ناشونی نه وي نو د زیاتو مشکلاتو ځخه خالي هم نه وي.

همدارنګه د وې وایي: کله چې یو سړی صدراعظم، رئیس جمهور او یا پاچا ته دوالیانو او یا وزیرانو په واسطه سره خپله عریضه او غوښتنلیک ور وړاندې کړي نو ذکر شوي دولتي مسؤلین بیا د خپلو والیانو او وزیرانو په خاطر سره د دغه سړي عریضې او غوښتنلیک ته نسبة زیات اهمیت ور کوي.

دوئ د خپلو د غو خود ساخته مقدمو په تعقیب وايي: عوام الناس یعنې عادي خلق په دې خاطر چې ګناه کاران دي نو د حاجتونو د پوره کولو او د خپلو ستونزو او مشکلاتو د رفع کولو په برخه کښې ور له په کار دي چې ذوات فاضله، یعنې اولیاوې کرام، نیکان بندګان واسطه کاندې چې د الله پاک د دربار ته يې غوښتنې وړاندې کړي.

دوئ بیا د همدغه اتکال او مزخرف اعتقاد پر بنیاد

Downloaded from: ketabton.com

د اولیایي کراماتو نیکانو بندګانو قبرونو او مزارونو ته ور ددومي او د غیر مشروع اعمالو او اقوالو مرتکب کړي.

د (الواسطة بین الحق والخلق) په نوم رساله چې پښتو ژباړه (ترجمه) یې ستاسې په وړاندې قرار لري، د اسلامي دعوت د یو مخکښ، مبارز او مجاهد شخصیت شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله لخوا د دغه ډول واسطې نیولو د شرکت والي یعنې مشروعیت او عدم مشروعیت په برخه کښې د قرآن کریم او نبوي احادیثو په رڼا کښې په ډیره مدلله توګه سره لیکل شوې ده، او د دغه مسئلې د وضاحت او روښانه کولو په لړ کښې یوه ډیره قیمتي او ارزښت ناکه رساله ده، او لکه چې محمود مهمند وایي: ددې وړده چې په طلاؤ سره ولیکل شي او په اسلامي ټولنه کښې د عمل او عقیدې د اصلاح په باب داستفادې وړ وګرځي، که لوستونکي د مطالعې په مهال خپله کینه او تعصب شاته وغورځوي نو حتما به ورته دا خبره مبالغه نه بلکښې حق او حقیقت ثابت او معلوم شي.

ګرانو لوستونکو! مخکښې لدې چې د نوموړې رسالې په ژباړه باندې پیل کوم لازمه ګڼم چې لومړی

Downloaded from: ketabton.com

د رانه د کتاب مؤلف شیخ الاسلام ابن تیمیه رح په لنډ ډول سره د ررو پېژندنه او بیا مو د یو څه وخت لپاره د څېړونکي په سریزه (مقدمه) کښې چې په ځینې ذات کښې بوه ارزښتناکه او کتوره لیکنه ده مشغول و ساتم، او دا په دې خاطر چې په آینده کې په مینه او رغبت سره ځینې مطالعې ته د کتاب تر پای پورې ادامه ورکړئ.

په پای کښې ستاسو توجو دې ټکي ته اړوم چې د څېړونکي سریزه له دې امله چې اوږده وه نو جلا شمېره د رته و رنه کېږل شوه او د شیخ د ځینې لیکنې سره یې تسلسل په نظر کښې و نیول شو چې په دې ترتیب سره تر (۱۷) مخه پورې سریزه ده او بیا د (۱۸) مخ څخه زمونږ د ترجمې منتخب کتاب شروع کیږي.

پس دا دی زه د وعدې مطابق په لومړي مقصد پیل کوم او د الله تعالی څخه سوال کوم چې مونږ ټولو مسلمانانو ته په صراط مستقیم باندې چې د منعوم علیهم غیر المغضوب علیهم ولا الضالین لاره ده تللو توفیق راکړي.

وصلی الله تعالی علی محمد و آله وصحبه اجمعین

قاضي محمد شعیب . کنړ افغانستان .

۸/۳/۱۴۱۵ هـ ق.

Downloaded from: ketabton.com

دَ مُصنف لنډه پېژندنه

د ده نوم شیخ الاسلام تقي الدین ابو العباس احمد ابن عبد الحلیم بن عبد السلام بن عبد الله بن الخضر بن محمد بن تیمیّة الحراني الدمشقي دی.

تیمیّة د ده نیابي نوم ؤ چې اصلاً د ده د جد اعلی (محمد) مور وه او په خپله زمانه کښې یوه داسې عالمه، واعظه او تقویٰ داره ښځه وه، چې په خپل فامیل او سیمه کښې یې په علم، پوهه، ذکاوت او تقوی کښې ساری نه درلوده او بیا دهغې د اولاد په سلسله کښې تیمیه د هغه چالپاره تخلص وګرځېدلو چې دهغې سره یې په علم او ذکاوت کښې مشابهت او ورته والی درلوده.

شیخ الاسلام ابن تیمیه رح په ۶۶۱ ه‍.ق کال کښې د ربیع الاول د میاشتې په (۱۰) نېټه د حران په ښار کښې زېږېدلی دی، او کله چې تاتاري یرغلګرو فوځونو په ۶۶۷ ه‍.ق کال کښې په حران باندې یرغل وکړ، نو شیخ د شپږو (۶) کلونو په عمر ؤ چې والد صاحب یې رک او د کورنۍ نور غړي د ځان سره واخستل، او دمشق ته مهاجر شول؛ ده په دمشق کښې خپلې زده کړې ته چې په حران کښې یې پیل کړې وه ادامه ورکړه، او

Downloaded from: ketabton.com

په لنډه موده کښې يې خپل تحصيلات پای ته ورسول.
څرنګه چې نوموړی د لوړ استعداد، قوي حافظې او اعلی زکاوت څښتن و، نو له دې کبله د خپل تحصيل په دوران کښې د هر فن په زده کړه کښې د ټولو همدرسو اندېوالانو، او ملګرو په نسبت سره ممتاز حيثيت او مقام درلوده، ده به خپل درس په داسې توګه حافظې ته سپارلو چې کله به تر ينه کوم ملګری او يا استاذ پوښتنه وکړه نو ده به ورته خپل ټول درس په داسې ترتيب سره تېر که لکه څنګه چې به يې استاذ درس ورکړی و، همدا وجه وه چې ټولو استاذانو به يې ستاينه او صفت کاوه او ملګرو به يې د ده د خدای ورکړي استعداد په برخه کښې حسد مشروعه يعنې غبطه درلوده.
شيخ الاسلام ابن تيميه رح د هغو رښتنو او واقعي علماؤ او مجاهدينو له جملې څخه دی چې د دعوت الی الحق په ميدان کښې يې په ژبه، قلم او توره سره د جهاد وظيفه تر سره کړېده، او خپل مسؤليت يې د خپل وس مطابق په پوره ايمان دارۍ او خلوص سره رفع کړی دی.
د دعوت بنيادي مقصد يې د شرک او بدعاتو رد د الله تعالی وحدانيت او يو والي ته د خلقو را بلل، او په اسلامي ټولنه کښې د رسول الله صلی الله عليه وسلم

Downloaded from: ketabton.com

د سنتو او طریقو معمول گرځول و، او په دغه لاره کښې دی د الله پاک نه پرته د بل چا څخه نه ویریده او نه یې ورله پروا ساتله.

ابن تیمیه رح د اسلام په تاریخ کښې د دعوت او جهاد په لاره کښې هغه ځلانده څیره ده چې خپل ټول عمري د علم په تحصیل، تدریس، تالیف، او د دین څخه د دفاع، او د اسلام د د ښمنانو په مقابل کښې په قتال او جګړه کښې تیر کړی دی، او په دغه برخه کښې یې داسې ستونزې او کړاوونه ګاللي دي چې تاریخ به یې ترقیامته هیر نکړي دی په خپل عمر کښې یې بیساره علمي ځواک خاوند و، الله پاک ورته په خپله مهرباني سره داسې علم او پوهه ورکړې وه چې د عقل خاوندان ورته ګرانه حیران پاتې و.

حافظ عمر بن علي البزار لیکلي دي چې یوه ورځ دی د دې حدیث متعلق (لَعَنَ اللهُ الْمُحَلِّلَ وَالْمُحَلَّلَ لَهُ) وپوښتنه شوه نو ده په دې اړه داسې مفصل بحث وکړ چې یو لوی ټولګ کتاب تر بینه جوړ شو.

ده دا هم لیکلي دي چې د تعجب ور خبره لا دا ده چې شیخ یو زیات شمیر لوی او کوچني کتابونه په زندان کښې په داسې حال کښې تصنیف کړي دي چې د مطالعې لپاره ورسره هیڅ کتاب موجود نه و، او بیا هم ده له یاده څخه په ځیلو

Downloaded from: ketabton.com

تالیفاتو کښې ټول هغه څه ذکر کړي دي کوم ته چې ضرورت وي، د مثال په توګه دغه ډول احادیث، آثار، د علماؤ اقوال د محدثینو او مؤلفینو او د دوی د تالیفاتو نومونه یې په تفصیل سره بیان کړي او لیکلي دي.

دغه راز ده د ټولو هغو کتابونو نومونه په کوم کښې چې د غه احادیث، آثار او د علماؤ او محدثینو اقوال ذکر دي، په فصل او باب سره په ګوته کړي دي، او چې کله دغه تصانیف د څیړونکو لخوا د مطالعې لاندې نیول شوي دي نو الحمد لله غلطي په کښې مندل شوې نه ده.

امام ذهبي لیکلي دي چې شیخ الاسلام ابن تیمیه ؒ لکه څنګه چې د صحابه وُ او تابعینو د اراؤ او مسلکونو په باب کافي معلومات او اګاهي درلوده، دغه راز یې د څلورو مشهورو مذهبونو متعلق هم داسې مطالعه لرله چې کله به ترینه په کومه مسأله کښې پوښتنه وشوه نو ده به ورته په دغه مسئله کښې د څلور واړه مذاهبو اقوال په تفصیل سره مدلل بیان کړل.

ذهبي دا هم لیکلي دي چې ده د قرآن او سنت په استناد سره په ډېرو مسائلو کښې داسې فتواګانې ورکړې دي چې هغه په څلورو مذاهبو کښې وجود نه لري دغه ډول د لیکلي دي چې نوموړي هیڅ کله د کوم معین او ټاکلي مذهب پر اساس فتوی نه ده ورکړې بلکښې د هغه دلیل پر بنیادیې

Downloaded from: ketabton.com

حکم کړی دی چې د ده په نزد سیځې «صحیح» ثابت شوی دی. ذهبی
وایې په دې برخه کښې د ده مقصد د رسول الله صلی الله علیه وسلم
سنت او د سلف صالحینو طریقه ته ورنه دی کول او رواجول و.

علامه کمال الدین ابن زملکانی ویلی دی:

کله چې به د ده (شیخ الاسلام ابن تیمیة) نه د علم په یو فن
کښې سوال وشو او ده به په بحث شروع وکړه، نو آوریدونکی
اولیدونکی به داسې گمان کاوه چې گنې دی د دې فن څخه پرته
په بل فن باندې نه پوهیږي او داسې به ګڼله چې بل هیڅوک
د ده په شان په دې فن کښې معلومات نه لري.

د شیخ د علمي مجلس د حاضرینو د جملې څخه د ابن الدوري
په نوم یو عالم وایې: د شیخ څخه یوه ورځ یو یهودي په
شعر سره چې (۸) آته بیتونه جوړ یدل د قدر په باره کښې
پوښتنه وکړه، پس شیخ لږه شیبه سکوت اختیار که او بیا یې
په لیکنه باندې شروع وکړه، مونږ داسې گمان کاوه چې گنې په
نثر سره به یې ځواب نوشته کوي، ولې ده چې کله لږ وخت
روسته حاضرینو ته ځواب آورولو نو وموليدل چې تقریبا
(۱۸۴) بیتونه یې د سوال د اشعارو د بحر او قافیې مطابق
لیکلي و او د ټولو علوموا او فنونو رعایت پکښې په کامله
توګه شوی و.

د شیخ الاسلام ابن تیمیة د مناقبو د لیکونکو د جملې څخه
حافظ عمر بن علي البزار متوفی ۷۴۹ هـ په خپل تالیف «الاعلام

Downloaded from: ketabton.com

العلیة فی مناقب ابن تیمیة ﷺ کښې لیکلي دي: شیخ به د رسول الله صلی الله علیه وسلم ذکر او یادونه د صلی الله علیه وسلم څخه پرته بیخي نه کوله او حماد ي په الله جل جلاله باندې قسم وي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تعظیم، درناوي او اتباع په برخه کښې د ده څخه زیات بل څوک نه دی لیدلی، ځکه چې کله به په یوه مسئله کښې کوم حدیث موجود ؤ او ده به په هغې پوه شو چې دا د بل حدیث په ذریعه سره نه دی نسخه شوی، نو هغه حدیث به یې معمول بها گرځولو او ده به د هغه حدیث په تقاضا به یې فیصله او فتوه صادره وله او د نورو خلکو تا تو څخه به یې د بد هیڅ چا قول ته که هر څوک به و د کوم التفات نه کاوه.

شیخ د تالیف او تصنیف په ساحه کښې خاص او ځانګړی مهارت درلوده. او همدغه وجه ده چې تالیفات یې واړه او غټ د مورخینو او حفاظو په قول سره د یو زر (۱۰۰۰) څخه زیات حساب شوي دي.

حافظ ابن قیم، حافظ ابن کثیر، حافظ ابن قدامه، او حافظ ابن ذهبي د ده مشهور د شاگردان دي، او د دغه لوړ علمي شخصیتونو د زده او جامعې ته وړاندې کول د ده د علمي پیاوړتیا د جوته ونې په برخه کښې یو څرګند دلیل دی.

حافظ ابن کثیر په البدایه والنهایه، کښې لیکلي دي چې شیخ الاسلام ابن تیمیة د (۷۲۸) ه کال د ذي القعدې د میاشتې په (۲۰) نیټه د دوشنبې د شپې سحر مهال یعنې د

Downloaded from: ketabton.com

سبا صادق د راختلو په وخت په زندان کښې څنګه روح خپل حقیقي مالک ته په داسې حال کښې وسپارله چې په زندان کښې یې د د سنه قرآن کریم آتیا[۸۰] ځله ختم کړی وُ، او په یو آتیایم[۸۱] وار سره د سورة قمر اخرني آیاتو ته (اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنَّاتٍ وَّ نَهَرٍ فِيْ مَقْعَدِ صِدْقٍ عِنْدَ مَلِيْكٍ مُقْتَدِرٍ) ته رسیدلی وُ چې بیا د سورة رحمٰن د اول څخه متباق قرآن مجید دوه مشهورو شیخانو: عبدالله بن المجد او عبدالله الزرعي الضریر چې شیخ رحمه الله به د دوی قرأت پیرخوښولو په همدغه ورځ د ده ته د غسل ورکولو څخه مخکښې ختم کړ.

ځینو مؤرخینو لیکلي دي چې د شیخ په جنازه کښې (۱۵) زره ښځې او د (۶۰ نه تر ۳۰۰) زره پورې نارینه حاضر وو، او حافظ عمر بن علي البزار لیکلي دي چې د ده د جنازې د حاضرینو څخه یو ټولګی په دې خبره اتفاق لري چې په شیخ باندې د جنازې د لمونځ کوونکو تعداد د پنځه سوو زره (۵۰۰) څخه زیات وُ او تاریخ پوهان وایي چې د احمد بن حنبلؒ د جنازې څخه وروسته دا دویمه جنازه وه چې په دومره لوی شمیر کښې لمونځ کوونکي پکښې راجمع شوي وُ.

ابن کثیر وایي: د شیخ د مخلصینو د جملې څخه یو کس چې کله په جنازه کښې د دومره زیاته کڼه ګوڼه ولیدله نو په اوچت اواز سره یې او ویل: هکذا تکون جنائز

Downloaded from: ketabton.com

اهل السنة م یعنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو د پیروانو جنازی همد غسی وی!.

او د سید المرسلین، خاتم النبیین محمد صلی الله علیه وسلم د پیروی پر اساس یی په ژوند کښی هم سرمایه صرف علم و او د مرګ نه یی روسته هم یوازی علم په میراث سره پریښود ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی علماء د انبیاؤ وارثان دی، او انبیاؤ درهم او دینار په میراث سره نه دی پریښی بلکښی معنوی علم په میراث سره پریښی دی.

الله پاک دی په ده باندی ورحمیږی او جنت الفردوس دی ور له نصیبه وکړځوی. آمین

(ژباړن)

Downloaded from: ketabton.com

بسم الله الرحمٰن الرحیم

د شیرونکی سریزه

ان الحمد لله نحمده و نستعینه و نستغفره و نعوذ بالله من شرور انفسنا، و من سیّئات اعمالنا من یهده الله فلا مضل له، و من یضلل فلا هادی له و اشهد ان لا اله الا الله وحده لا شریک له و اشهد ان محمداً عبده و رسوله۔

امّا بعد: د الله تعالی او مخلوق، یعنی د الله پاک او بندګانو ترمینځ د واسطې مسئله یقیناچې ډیره

"خطرناکه"

خطیره مهمه او درنه موضوع ده خوافسوس چې اکثره مسلمانان ترینه غافل او ناخبره دي۔ او د همدغه غفلت نتیجه ده چې نن دغه اَوُ هام پرستې اوبې لارې توبونه او د مسلمانانو ذلت، شکست او سپکاوی وینو او ګورویې او د هغه نصرت او تائید ځنې د کوم وعده چې الله پاک له مونږ سره د شریعت په پیروئ او په الله تعالی باندې د توکل کولو په صورت کښې کړې وه محروم او بې برخې یو، الله تعالی په خپل مبارک کتاب قرآن کریم کښې فرمایلې دي:

Downloaded from: ketabton.com

(وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ.) (۱)
«او حق دی په مونږ باندې نصرت د مؤمنانو»
همدارنګه الله تعالیٰ فرمایلي دي:
(إِنْ تَنْصُرُوا اللّٰهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ)(۲)
که چرې مدد وکړئ تاسې د الله د دین سره نو مدد به وکړي الله له تاسی سره او ثابت او ټینګ به کړي قدمونه ستاسو» د غه ډول فرمايي:
(وَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ.)(۳)
او خاص ده لره دي عزت او غلبه او پیغمبر د ده لره دی او مؤمنانو لره دی». همدارنګه یې فرمایلي دي
(وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِيْنَ)(۴)
او تاسو غالب یئ که چرې یئ تاسو پوره ایمان والا.»
او س د غه نصرت چیرته دی، د غه عزت چیرته دی، او د مسلمانانو د غه برتري او غلبه چیرته ده؟!
د حق او خلق یعنی د الله تعالیٰ او بندګانو ترمینځ د واسطې پیژندلو په برخه کښی خلق د درې ډلې شوي دي:
(۱) یوه ډله هغه څوک دي چې هغوئ رسول الله صلی الله علیه وسلم د شریعت د تعلیم او ښوونې په

(۱) سورة الروم: ۴۷ - (۲) سورة محمد: ۷ - (۳) منافقون: ۸
سورة آل عمران: ۱۳۹

Downloaded from: ketabton.com

برخه کښې د یواځنۍ واسطې په توګه نه منی -

دې دیوې خلقو پوچې دعوې په وجه د غه شریعت یواځې د عوامو لپاره خاص کړی، او د علم الظاهر په نوم سره یې مسمیٰ کړې دې، او د هغو عباداتو په برخه کښې، په هغو اوهامو او خرافاتو باندې استناد کوي، چې د دوی یې علم باطن بولی او د «کشف» په نوم سره یې یادوی، او په حقیقت کښې هغه بلخه نه دی صرف دروغ، ابلیسي وسوسې او شیطاني واسطې دی چې د اسلام د اصولو او بنسټونو څخه مخالفې دی،..

دوی د دغه مزخرفی عقیدې د رواجولو لپاره هغه آوان داسې اوچتوي: « حَدَّثَنِيْ قَلْبِيْ عَنْ رَبِّيْ »!! یعنې زړه مې راته د هغه رب څخه خبر راکړې دی!!

دوی په دې لړکښې د هغو علماؤ پورې کوم چې د شریعت پیروي، تقوی او مسخرې کوی او وایی: د دې هغه مړ علم د مړی څخه حاصل کړی دې، او د علم باطن پیروان بدون له کومې واسطې څخه هغه علم د ژوندی او قیوم ذات څخه حاصله وی، د دې د دغه فتنې په وجه ډیر عوام تباه او بې لارې کړل، او د انحراف، فساد او ضلالت

Downloaded from: ketabton.com

په لوریې روان کړل.

دوی د ډېرو غیرو مشروع امورو کوم چې د دوی په کتابونو کښې لیکل شوي دي، مرتکب کړ شوي دي، او دا هغه څه دی چې علمايي ددوی دارتداد، کفر او قتلولو اسباب ګڼي.

دوی د شریعت د لومړي اصل څخه یا داچې خبر نه دی، او یا داچې په زړه یې خپل قانونه په ناخبرو کښې اچولي دي، څکه د دغه اصل له مخې هر څوک چې د الله پاک د هغه قانون او کتاب پر خلاف کوم چې الله تعالی په خپل نبي محمد صلی الله علیه وسلم باندې نازل کړې دې عمل وکړي نو هغه په یقیني توګه کافر دی، او په کفر کښې يې هیڅ شک او شبه نشته څکه الله تعالی فرمايلي دي:

«فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا» (۱)

ترجمه: پس نه ده داسې، قسم دی ستا په رب باندې چې نشي مؤمنان کیدای دوی تر هغه پورې چې حاکم کړي تا لره یعنې فیصله وکړي په تا باندې

(۱) نساء: ۶۵ -

Downloaded from: ketabton.com

په هغه معامله کښې چې پیدا شوی وی په منځ د دوی کښې بیا و نه مومی دوی په خپلوز ړونو کښې ځپګان د هغې فیصلې نه چې تاکړی دی، او ویې منی دوی په منلو سره یعنی بې له جګړی په خوښئ سره۔

د غه راز کله چې شیطان د دوی لپاره خپل اعمال ښایسته وګرځول او د علم او دارنګه د علم د سرچینو د لمنځه وړلو لپاره یې مقابله پیدا کړه نو نتیجه یې دا شوه چې په تېرو تیارو کښې روان شو او د خپلو او هامو او خیالاتو په جال کښې ګیر شو، او بیا د همدغو پوچو او پرسو دو خیالاتو په تیاره کښې د الله تعالی په عبادت باندې بوخت شول۔

دوې په مثال د هغه چادی چې الله پاک د هغو په هکله په قرآن کریم کښې داسې فرمایلي دي:

(قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُم بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا،
الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا
وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا،
أُولَٰئِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ
وَلِقَائِهِ فَحَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فَلَا نُقِيمُ
لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَزْنًا) (۱)

---

(۱) کهف: ۱۰۳ - ۱۰۵

Downloaded from: ketabton.com

ترجمه: ووا يه آيا خبر د کرم تاسو ته په باره د تاواني عمل والا وکښي، دا هغه کسان دي چې برباد دي عمل د دوی په ژوند د دنیا کښي، او دوئ گمان کوي چې يقينا دوي ښائسته عمل کوي، دا هغه خلق دي چې کفر يي کړي دي په آيا تونو د خپل رب او په ملاقات د هغه نو برباد دي عملونه د دوی پس وو به نه درو د دوی لپاره د قيامت په ورځ هيڅ تله بيا دغه طائفه خلق په متعدد ډلو باندې تيشل شوي دي چې په بيلا بيلو طريقو باندې روان دي او ځني يي دځنو نورو سره په جنګ او جګړه باندې اخته او مبتلا دي، او دا په دې خاطر چي دوې د صراط مستقيم څخه کومه چې د منعوم عليهم لاره لري واقع دي، او لکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم یي په خپل مبارک قول کښي يادونه کړې ده، د دغو ټولو فرقو او ډلو ځای د جهنم وور دی رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

„ سَتفترِقُ اُمّتی عَلٰی ثلاث وسَبعین فرقةً ثِنْتَانِ و سبعُون فِی النّارِ، وَوَاحِدَةٌ فِی الجنّةِ وَهِیَ من کان عَلی مثلِ ماانا علیه واصحابی“

رواه ابوداؤد، والترمذی، والنسائی وابن ماجة بسند صحیح عن ابی هریرة رض -

Downloaded from: ketabton.com

«زردی دی چی امت به می په دری او یا ډ لــو
تقسیم شی چی دوه او یا به یی په اور کښی وی
یعنی جهنم ته به ځی او یوه ډله به په جنت کښی وی
یعنی جنت ته به ځی، او دغه ډلــه هغه څوك دی
چی په داسی دین، ملت او لاره دروی کومه چی ځما
او ځما د ملګرو (صحابه ؤ) طریقه، لار او دین دی»
دغه حدیث ابو داود، ترمذی، نسائی، او ابن ماجه
په سپی سند سره د ابوهریره رضی الله عنه څخه
روایت کړی دی -

۲- دویمه ډله د دوی څخه هغه څوك دي چې د غه
واسطې په برخه کښی یی د مبالغې نه کار اخستی دی
او د خپلی غلطی عقیدې په وجه یی د واسطی څخه داسی
مفهوم اخستی دی چی هغه هیڅ د واسطی مفهوم او
مقصد کیدلی نه شی؛ پس دوی د همدغه غلطی پربنا
د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارك ذات او د
نورو انبیاوو، او نیکانو خلقو ذوات واسطی نیولی
دی او دا عقیده ساتی چی الله تعالیٰ د بندګانو هیڅ
عمل نه قبلوی مګر هله یی قبلوی چی په دغــو
واسطو ســره الله ته پنا ور وړی، او دغه واسطې
ددوې لپاره د الله پاك په وړاندې وسیله ګرځی
(تَعَالَىٰ عَمَّا يَقُولُـــونَ عُلُوًّا كَبِيرًا)

Downloaded from: ketabton.com

الله منزه اومقدس ذات دی، او د پیرو لویو صفتونو څښتن دی، دوی چې څه وایي هغه دالله د شان سره مناسب نه دی. العیاذُ باللهِ دوی الله تعالیٰ په داسي صفت سره متصف وګرځولو چې حتی هغه ظالم او مستبد پاچایان چې په خپلو درباروکښې یې پیره داران او څوکیداران ودرولي وي، او د واسطو والاوُ نه په غیر بل څوك نه شي ورننوتلی هغه به هم په دغو صفتونو سره متصف نه کړی شي.

که واقعیت په نظر کښي ونیول شي نو دغه ډول عقیده ساتل بیخي دالله تعر دکلام سره ضدیت لري ځکه الله پاك فرمایي:

﴿وَاِذَا سَاَلَكَ عِبَادِىْ عَنِّىْ فَاِنِّىْ قَرِيْبٌ اُجِيْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ اِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيْبُوْا لِىْ وَلْيُؤْمِنُوْا بِىْ لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُوْنَ﴾ (١)

ترجمه: او هر کله چې پو ښتنه وکړي له تا څخه بندګان ځما، له حال زما څخه. نو بیشکه زه نژدې یم، قبلوم دعا د دعاکونکي کوم وخت چې وغواړي له ما څخه، پس و دی منی حکمونه زما او ایمان دی راوړي پر ما ریښتین دی وکړی په قبول د دعا سره، بنا یې چې دوی په سمه لاره محکم پاتې شي.

(١) بقره : ١٨٦ .

Downloaded from: ketabton.com

په دغه مبارك آیت کښې د یته گوته نیول شوي ده چې الله تعالیٰ ته د رسیدو لپاره یوا ځنۍ واسطه په الله تعالیٰ باندې قوي او سپې ایمان لرل دي او بیا په مشروع طریقه باندې د الله پاك عبادت کول دي.

د غه راز په دې مبارك آیت کښې عبادت د ایمان څخه څنګښې ذکر شوی دی، او دا په دې خاطر چې خلق د یته متوجې شي چې عمل صالح یعنې نیك عمل ډېر زیات ارزښت او اهمیت لري او د الله تعالیٰ د رضا حاصلولو او جنت ته د تللو لپاره یو ضروري شرط دی او الله تعالیٰ چې په قرآن کریم کښې د کومې وسیلې ذکر کړې دې د هغې څخه هُم مقصد طاعات او نیك عملونه دي، او دا هغه یوا ځنۍ واسطه ده چې تا الله پاك ته نږدې کوي، او د الله تعالیٰ د رحمت د روازې در ته پرانزي او جنت ته دې ورننباسي الله تعالیٰ فرمایلي دي:

﴿ يَآ أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَابْتَغُوا إِلَيْهِ الْوَسِيلَةَ وَجَاهِدُوا فِي سَبِيلِهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴾ (۱)

ترجمه: اې ایمان والاؤ! وویربږې د الله تعالیٰ نه او ولټوئ خاص الله تعالیٰ ته نږدې والې په

---

(۱) مائده: ۳۵

Downloaded from: ketabton.com

طاعت سره، او جهاد وکړئ په لار د الله تعالی کښې د دې لپاره چې کامیاب شئ یعنې مراد ته ورسیږئ.

الله پاک د هغه جهالو او ناخبرو خلقو د سپکاوی او سپور تیا په بر خه کښې چې د الله تعالی نیک بندګان یې، وسیله نیولی دی داسې فرمایلی دي:

«اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ يَبْتَغُوْنَ اِلٰى رَبِّهِمُ الْوَسِيْلَةَ اَيُّهُمْ اَقْرَبُ وَيَرْجُوْنَ رَحْمَتَهٗ وَيَخَافُوْنَ عَذَابَهٗ اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُوْرًا» (۱)

ترجمه: هغه کسان چې دوی یې عبادت کوی «رامدد شه ورته وایي» په خپله هغوې خپل رب ته نژدې والي لټوی چې کوم یو به له دوې نه ډیر نژدې وي (الله ته) او امید لری دوې د رحمت د هغه (الله) او ویریږی د عذاب د هغه نه یقیناً ستا رب له عذابه ویره کیدای شی.

په دغه مبارک آیت کښې دا خبره په ډاګه شوی ده چې نیک اعمال الله تعالی ته د تقرب حاصلولو یوا ځنۍ لار ده، او د دینه پرته بله کومه لار الله پاک ته د نژدې کیدو لپاره وجود نلري او هغه نیک بندګان چې دوې وسیله نیولی دی

---

(۱) الاسراء: ۵۷.

Downloaded from: ketabton.com

هغوي په خپله دخپل ځان لپاره دغې و سيلې ته احتياج او اړتيا لري .

دغه ناپوهه خلق په دې خاطرچې ستومانه نشي د دغو واسطو په ذوا تو باندې اتکاکوی او د خپلی غلطۍ او تيرو تنې پر وجه نه نيک اعمال ترسره کوی او نه د حرامو څخه ځانونه ساتي .

د مسلمانانو د خطاکيدو او انحراف لويه وجه داده چې دوی د الله تعالیٰ هغه مبارک قول چې په هغې کښې يې د آدم عليه السلام د ټول اولاد سردار جناب محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم ته په خطاب کولو کښې فرمايلي دي :

(قُلْ لَّآ أَمْلِكُ لِنَفْسِيْ نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا)(۱)

هير کړي دي او يا تر بينه هير شوي دي ، ځکه په دغه آيت کښې الله پاک فرمائيي :

پيغمبره ! دوی ته او وايه چې زه د خپل ځان لپاره نه د گټې رسولو مالك يم او نه دضرر د دفع کولو مالك يم .

دغه راز د رسول الله صلی الله عليه وَسَلم هغه قول چې خپلې گرانې لور فاطمې رضی الله عنها ته يې يکښې فرمايلی دی : ای فاطمې ! دخپل ځان د نجات لپاره عمل

---

(۱) اعراف : ۱۸۸ -

Downloaded from: ketabton.com

دکړه لکه چې زه تا د الله تعالیٰ د عذاب څخه نشم خلاص ولې. (۱)

دغه ډول د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه قول چې فرمایي . کله چې انسان مړشي نو دهغه عمل قطع شي مګر د دری څیزو نو ثواب ورته رسیږي چې هغه صدقه جاریه ده، علم نافع دی او ولد صالح دی چې دعا ورته کوي.

دغه حدیث چې معنایې ذکرشوه مسلم روایت کړی دی
په دې باره کښې دعمر رضی الله عنه له پلوه دعباس رضی الله عنه په دعا سره وسیله نیول، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارك ذات وسیله نه نیول یوداسې قناعت بخش دلیل دې چې حتی که په نصوصو کښې دانبیاؤ او صالحینو په ذواتو باندې د وسیلې نیولو څخه منع هم نه دی راغلې، نو دغه طائفې درد لپاره همدغه کافی ؤ.

دغه ډول دامام ابوحنیفه رحمة الله علیه یو ډیر ارزښتناك قول درمختار او دا حنافو بعضو نورو کتابونو په دې برخه کښې داسې نقل کړی دي: «وَاَكْرَهُ اَنْ يَّسْاَلَ اللهَ اِلَّا بِاللهِ» دی وایي: زه دا خبره بده ګڼم چې د الله تعالیٰ څخه پرته په

(۱) دغه حدیث چې معنائې ذکرشوه بخاری روایت کړی دی.

Downloaded from: ketabton.com

بلکه باندې د الله نه سوال شي.

همدارنګه که الله پاک ته د ذکرشویو ذواتو ذوات واسطه نیول جائز وای نو خامخا به یې ذکر په هغو د عامانوکښې راغلې وای چې په قرآن کریم او احادیثوکښې موجودی دی.

هو: کله چې د یو مسلمان سره دا شوق پیدا شي چې الله پاک ته په وسطو سره ځان نژدې کړي نو کولې شي چې د الله پاک څخه د الله په ذات یا د هغو اعمالو د جملې څخه په یو عمل یا د الله تعالی د نوموونوڅخه په یو نوم، او یا د ده د صفتونوڅخه په یو صفت باندې سوال وکړي.

(۳) - د مسلمانانو څخه ځنی داسې کسان دی چې هغوې د الله او بندګانو ترمنځ دغه واسطه یو رسالت کښې چې بیا دغه رسالت د تبلیغ، تعلیم او تربیې څخه عبارت بولی، دغه ډول د وې د دغه رسالت اهمیت، او ورته د بشری ټولنې د ضرورت او اړتیا اندازه هم درک کړی ده، او همدا وجه ده چې دوی په ډیرې چلتۍ سره محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یعنی د رسول الله صلعم شریعت ته ور دروړې ترڅو د وحې په رڼا کښې د ده په دین باندې د ځان پوهه ولو په برخه کښې دې

Downloaded from: ketabton.com

(رسول الله صلی الله علیه وسلم) یو ستره واسطه او عظیمه وسیله ونیسی- بیا دوی له هغې امله د رسول الله صلی الله علیه وسلم سیرت او سنت ته لوی لکه څنګه چې قرآن کریم لولی او شعاریې په دې برخه کښې د الله پاک د غه مبارک فرمان دی :

(قَدْ جَاءَكُمْ مِّنَ اللَّهِ نُورٌ وَكِتَابٌ مُّبِينٌ يَهْدِي بِهِ اللَّهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهُ سُبُلَ السَّلَامِ وَيُخْرِجُهُم مِّنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِهِ وَيَهْدِيهِمْ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ) (۱)

ترجمه: یقیناً را غلی دی تاسو ته د الله له طرفه نور (رڼا یعنی محمد ص) او کتاب واضح بیان والا چې ښوونه او هدایت کوی په هغې سره الله تعالی هغه چا ته چې تابعداری کوی د رضا د ده په طرف د لارو د سلامتیا، او دوی باسې دوی له تیارو (د کفر، شک، جهل، څخه نور (رڼا د ایمان، یقین، علم، ته په حکم خپل سره، او هدایت ښودنه، کوی دوی ته په طرف د لارې سمې صافې (د توحید).

د غه ډله هماغه ناجیه فرقه ده چې په وړاندې ذکرشوی، حدیث کښې ورته گوته نیول شوې ده

---

(۱) مائدة : ۱۵: ۱۶ -

Downloaded from: ketabton.com

او د جنت زیری ور ته ورکړل شوي دي.

اما متأسفانه د دغه فرقې، ډلي لاره ډیره زیاته سخته او ازغنه، یعنې د مشکلاتو او کړاوو نو ځکه ډکه لاره ده، ځکه حقیقي اسلام غریب او ناآشنا ګرځیدلی دی، او اکثرو مسلمانانو ورته شاوی اړولي دي او د ځانونه یې ورته په لرې مسافه کښې نیولي دي، او د واقعي اسلام په بدل کښې یې بدعات او خرافات معمول او مروج ګرځولی دی.

د غه مصیبت او فتنه د ډیری پخوانۍ زمانې څخه را په دې خوا جریان لري او مصلحینو په کښې د اصلاح لپاره په ډیر تکلیف سره خپل رول لوبولی دی. عمر بن عبد العزیز رضی الله عنه د دوی د جملې څخه په دې هکله داسې ویلې دي:

مونږ د یو داسې کار د اصلاح لپاره کار شروع کړی دی چې د الله پاك نه پرته بل څوك په دغه لاره کښې مرسته نشی کولې، دا داسې یوه لاره ده چې د سپین ږیرو او مشرانو ژوند پکښې پای مومي، او واړه او صغیر هلکان پکښې ځوانۍ ته رسیږي، دې وايي: یو اطرافی او بانډه چې به، یو ناوړه او ناروا عمل تر سره کوي او داګمان به ور باندې کوي چې دا دین دی او حال دا چې هغه به د الله (ج) په نزد

Downloaded from: ketabton.com

باندې دين نه وي. »

د اسلام او مسلمانانو د غه ډول حال په باره کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د یو حدیث مفهوم داسې دی:

د اسلام منونکي لکه څرنګه چې په ابتداء کښې غرباء او کمزوري ؤ، دا رنګه په آخره کښې به هم غرباؤ ته پاتې وي پس ښېك مرغه او مبارك دي وي حال د غريبانو -

د غو غرباؤته رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل مبارك قول کښې د جنت زيرې په دې ډول سره ورکړې دی:

« سَتَفْتَرِقُ اُمَّتِیْ عَلٰی ثَلٰثٍ وَسَبْعِیْنَ فِرْقَةً اِثْنَتَانِ وَسَبْعُوْنَ فِی النَّارِ، وَوَاحِدَةٌ فِی الْجَنَّةِ وَهِیَ: مَنْ کَانَ عَلٰی مِثْلِ مَا اَنَا عَلَیْهِ وَاَصْحَابِهٖ

دغه ناجيه فرقه « د الله پاك د عذاب څخه نجاب مندونکې ډله » يقيناً هغه څوك دي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د احاديثو پيروي دي، الله پاك دې ورله مړي مرحوم وګرځوي او د ژوندو به ژوند کښې دې ورله برکت واچوي او د خپل قوت او طاقت په ذريعه دې ورسره مدد او مرسته وکړي څکه همدوي دي چې د هدايت او لارې ښوونې ستورې

Downloaded from: ketabton.com

او مشالونه دی، او د تقوی او سمی لاری په لو ر بلو نکی او داعیان دی، چا چې د دوئ سره د ښمنی کړې ده نو هغوی هلاک شوی دی، او چا چې د دوی پیروی پرېښې ده نو هغوی گمراه شوی دی، د دوی دعوت بالکل علنی او ښکاره دی، او د حق په لار کښی د ملامت شویو د ملامتیا څخه نه ویریږی

او س نو د ده خبره شیخ الاسلام ابن تیمیه (رح) ته پرېږ د و چې د غه واسطه په څپله ارزښت نا که رساله (الواسطة بین الحق والخلق) کښی تشریح او روښانه کړي۔

دا رساله د دې وړ ده چې په طلاؤ یعنی په سرو زرو سره و لیکل شی او مسلمانان یې په پوره سوچ او فکر سره و لولی تر څو د غفلت د خوب څخه را بید ار شی او د نصرت، قوت او سرلوړی په لو ری گامونه اوچت کاندې او د انبیا وو او نورو نیکانو بندګانو قبرو نو ته نیتې د ل او پرې وتل، او په عاجزئ، ذلت او سر ښکته کولو سره یې د د بارو نو د د روازو مسح کول او ښکلول پرېږدی۔

وصلی الله علی سید نا محمد معلم الخیر، وعلی آله وصحبه وسلم۔

محمود مهدی الاستانبولی۔

Downloaded from: ketabton.com

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَسَلٰمٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى آللّٰهُ خَيْرٌ اَمَّا يُشْرِكُوْنَ﴾ (۱) اَمَّا بعد:

دغه رساله د هغو د ډو کسانو د بحث په باره کښې د پرې کړې په غرض ليکل شوې ده کوموچې يو بل سره په خپل منځ کښې مباحثه درلوده، او يو کس د دغو دوارو څخه وديل:

د الله پاک او زمونږ ترمنځ څامخا يوې واسطې ته ضرورت دی ځکه مونږ د دغه واسطې څخه پرته الله پاک ته د تقرب او رسيدو توان او وس نه لرو.

د الله (ج) او بندګانو ترمنځ د واسطې معنی

الحمد لله رب العلمين - ثنا او ستاينه يوازې الله لره ده چې رب د مخلوقاتو دی. که د دې خبرې مقصد داوی چې مونږ ته د الله تعالی د حکم بيان رسولو کښې حتما يوې واسطې ته ضرورت دی؟

---

(۱) سورة نمل (۵۹) ترجمه: ووايه ای محمده! چې ټولې ثناګانې او ستاينې خاص الله لره دي او سلام دی په هغه بندګانو د ده چې غوره کړي دی الله آيا الله غوره دی يا هغه څه چې شريکوي يې د وی د الله سره.

Downloaded from: ketabton.com

نو دا یوه پرځای او حقه خبره ده، څکه مخلوق په دې نه پوهیږی چې الله پاک دکوم شی سره مینه لري، په کوم باندې خوښیږی، دکوم عمل په تر سره کولو باندې یې امر کړی دی، او دکوم شی دکولو څخه یې منع کړی ده، او دغه راز دخپلو دوستانو لپاره یې څه ډول درجې او نعمتونه تیار کړی دی، او دخپلو دښمنانو لپاره یې دکوم کاړ په کولو سره د عذاب ورکولو وعده کړی ده، او دا رنګه هغه عذابونه په څه ډول او څنګه دی.

دغه ډول مخلوقت ته د الله تعالی د اسماؤحسنیٰ (ښکلو نومونو) او عالیه صفاتو د پیژندلو په برخه کښې چې عقل د هغو د معرفت څخه عاجز دی، معلومات نه وُ، دغه راز د دې نور امثال دي چې هغه هی حاصلول ور باندې د انبیاؤ علیهم السلام پودې کوم چې الله جل جلاله خپلو بندګانو ته رالیږلی دی ارتباط او اړه تیا لری.

پس هغه کسان چې د پیغمبرانو پیرو او ور باندې ایمان لرونکی دی هم دوئ هدایت مندونکی او هغه کسان دی چې د الله پاک پرنز د باندې د درنښت او قرب مقام لري او په دنیا او اخرة کښې د او چتو درجو او عزت خاوندان دی.

Downloaded from: ketabton.com

اَمّا هغه څوک چې د انبیاؤ مخالفین دي هغوئ په یقیني توګه لعنتیان دي او په دنیا او آخرت کښې د خپل پروردګار د هدایت څخه محروم او بې برخې دي

چاچې قرآن ولوستلو او عمل یې وربانذې وکړ نه به ګمراه شي او نه به بدبخت شي

په دې برخه کښې رب العزت داسې فرمایلي دي :

(یٰبَنِیۤ اٰدَمَ اِمَّا یَاْتِیَنَّكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ یَقُصُّوْنَ عَلَیْكُمْ اٰیٰتِیْ فَمَنِ اتَّقٰی وَاَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَیْهِمْ وَلَا هُمْ یَحْزَنُوْنَ- وَالَّذِیْنَ كَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا وَاسْتَكْبَرُوْا عَنْهَاۤ اُولٰٓىِٕكَ اَصْحٰبُ النَّارِ هُمْ فِیْهَا خٰلِدُوْنَ.) (۱)

ترجمه: اې اولاد د آدم علیه السلام که راغلو تاسو ته پیغمبران ستاسې له جنس نه چې بیانه وي په تاسو باندې آیتونه زمونږ نو هر هغه کس چې ځان یې وساتلو د بدوکارونو نه او خپل عمل یې اصلاح کړو نو نه به وي هیڅ ویره په دوي او نه به دوي غمژن کیږي.

او هغه کسان چې زمونږ آیتونو ته یې نسبت د دروغو

(۱) اعراف: ۳۵، ۳۶

Downloaded from: ketabton.com

وکړو او سرکشي یې وکړه د تیلولو د هغې نه هم دغه کسان او سید ونکی دا ورر یعنی دوزخ) دی، دوی په دغه اورکښې همیشه وی ۔

همدغه ډول الله تعالیٰ فرمایي:

(فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدًى فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقَىٰ، وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَىٰ قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِي أَعْمَىٰ وَقَدْ كُنتُ بَصِيرًا، قَالَ كَذَٰلِكَ أَتَتْكَ آيَاتُنَا فَنَسِيتَهَا وَكَذَٰلِكَ الْيَوْمَ تُنسَىٰ)(۱)

ترجمه: پس که راغې ز ماله طرفه تاسو ته هدایت نوهرچاچې متابعت وکړو د هدایت ځما پس نه به ذی ګمراه کیږی (په دنیاکی) او نه به بدبخت شی (په آخرت کښې) او هرچاچې زماله یاده مخ وګرځا وه، پس بیشکه ده ته دی ګزران (ژوندون) تنګ او پورته به کړو مونږ دلره په ورځ د قیامت کښې ړوند، و به وایې (دغه ړوند کافر) ای ربه ځما ولې دې پاځولم زه ړوند حال داچې زه بینا وم (په دنیاکښې) و به وایی دغسې شان راغلې ؤ تاته آیاتونه ځمونږ پس هیرکړې ؤ تا هغه، او هم دغه شان به نن ورځې ته هم هیرکړې شې

(۱) طه: ۱۲۳-۱۲۶ -

Downloaded from: ketabton.com

دغه پوول د دوزخیانو د حال بیانولو

په لړ کښې الله تعا داسې فرمایلي دي:

(كُلَّمَآ أُلْقِيَ فِيهَا فَوْجٌ سَأَلَهُمْ خَزَنَتُهَآ أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَذِيرٌ، قَالُوا بَلَىٰ قَدْ جَآءَنَا نَذِيرٌ فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا مَا نَزَّلَ اللَّهُ مِن شَيْءٍ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا فِي ضَلَالٍ كَبِيرٍ) (۱)

ترجمه: هر کله چې وغورځولی شي دوزخ ته یوه ډله (د منکرانو) نو پوښتنه به وکړي له هغوی نه څوکیداران (پیره داران) د دوزخ، آیا نه وُ راغلی تاسو ته (ای منکرانو) ویروونکی (پیغمبر په دنیا کښې) نو وبه وایي (منکران)، هو په تحقیق راغلی وُ مونږ ته ویروونکی خو دروغژن وباله مونږ دی او وویل مونږ (هغوی ته چې) نه دی رالیږلی الله هیڅ شی نه یئ تاسی مګر په ګمراهي لویه کښې.

دَغَه پَوْل اللّٰه تَعَالیٰ فَرمَایلي دي:

(وَسِيقَ الَّذِينَ كَفَرُوٓا إِلَىٰ جَهَنَّمَ زُمَرًا حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا فُتِحَتْ أَبْوَٰبُهَا وَقَالَ لَهُمْ

---

(۱) سورة ملك: ۸، ۹ -

Downloaded from: ketabton.com

خَزَنَتُهَا اَلَمْ يَاْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ يَتْلُوْنَ
عَلَيْكُمْ اٰيٰتِ رَبِّكُمْ وَيُنْذِرُوْنَكُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ
هٰذَا ط قَالُوْا بَلٰى وَلٰكِنْ حَقَّتْ كَلِمَةُ الْعَذَابِ
عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ـ (۱)

ترجمه: روان به کړی شي کافران ر په ټېل وهلوسره
جهنم ته ډلې ډلې ترهغه وخته پورې چې راشي دوی
دوزخ ته، نو پرا به نستی شي دروازې دهغې او به
وایی دوی ته محافظان (څوکیداران) ددغه دوزخ
آیا نه وُ راغلی تاسی ته رسولان ستاسی دجنس نه
چې لوستل به دغه رسولانو پر تاسی آیتونه د قرآن
د رب ستاسی، او ویره ول به دوی تاسی لره له ملاقات
د دغه ورځې ستاسی نه، وُ به وایی دوی (کفار) ولې نه
راغلی وُ مونږ ته او لوستلی یی وُ مونږ ته، لیکن
ثابت شو حکم د عذاب پر کافرانو.

ابن عباس رضی الله عنهما د قرآن کریم د معمول
گرځولو په برخه کښې داسی ویلې دی:

چا چې قرآن ولوستلو او هغه څه چې په قرآن
کریم کښې دی په هغې یی عمل وکړ نو
الله پاک یی متکفل دی نه به په دنیا کښې
گمراه او بې لاری شی او نه به په آخرت کښې بد بخت بدمرغه شی

(۱) سورة الزمر: ۷۱ -

Downloaded from: ketabton.com

رسولان د الله او بندګانو ترمنځ د احکامو رسولو په برخه کښې واسطې دي .

الله جل جلاله په خپل مبارک کتاب قرآن کریم کښې فرمایلي دي:

(وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ فَمَنْ آمَنَ وَأَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ - وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا يَمَسُّهُمُ الْعَذَابُ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ - (۱)

ترجمه: او نه لیږو مونږ رسولان مګر زیری کونکی (مؤمنانو ته په نعیم سره)، او ویره ورونکی (کفاروته له جحیم څخه)، پس هر چا چې ایمان راوړ او اصلاح یې کړه (عمل یې په طاعت سره)، نو نه به وي هیڅ قسم ویره پر دوی باندې او نه به دوی خفه کیږي، او هغه کسان چې دوی نسبت د دروغو کوي آیتونو زمونږ ته وبه رسیږي دوی ته عذاب په سبب د هغې چې دوی فاسقان وو.

هم دغه ډول الله تعالی د قرآن کریم په بل ځای کښې فرمایلي دي:

(إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَى نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِنْ بَعْدِهِ وَأَوْحَيْنَا إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ

---

(۱) د انعام سورة: ۴۸ او ۴۹ نمبر آیتونه -

Downloaded from: ketabton.com

وَاِسْحٰقَ وَ يَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ وَعِيْسٰى وَ
اَيُّوْبَ وَ يُوْنُسَ وَهٰرُوْنَ وَسُلَيْمٰنَ وَاٰتَيْنَا
دَاوٗدَ زَبُوْرًا ۝ وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنٰهُمْ عَلَيْكَ
مِنْ قَبْلُ وَرُسُلًا لَّمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ
وَكَلَّمَ اللّٰهُ مُوْسٰى تَكْلِيْمًا ۝ رُسُلًا مُّبَشِّرِيْنَ
وَمُنْذِرِيْنَ لِئَلَّا يَكُوْنَ لِلنَّاسِ عَلَى اللّٰهِ
حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ ۝ (۱)

ترجمه: بیشکه چې مونږ وحې کړې ده تا ته لکه
څنګه چې وحې کړې وه مونږ نوح علیه السلام ته او
نورو انبیاؤ ته پس له هغه نه، او وحې کړې ده
مونږ ابراهیم ته او اسمعیل ته او اسحٰق ته او یعقوب
ته، او اولاد هغوی او عیسیٰ ته او ایوب ته او یونس
ته او هارون او سلیمان ته، او ورکړې وو مونږ داود
ته زبور، او وحې کړې وه مونږ ډیرو رسولانو ته
چې بیان کړي دي مونږ د هغوی تا ته مخکښې له دینه
او نورو ډیرو رسولانو ته چې هغوی مونږ نه دي
بیان کړي تا ته او خبرې کړې دي الله تعالیٰ موسیٰ
سره خبرې کول او لیږلي مودي رسولان زیري ورکونکي
او ویره ورکونکي د دې لپاره چې نه وي خلکو لره
په الله باندې دلیل او بهانه پس د لیږلو د رسولانو نه.

---

(۱) سورة النساء: ۱۶۳ - ۱۶۵ -

Downloaded from: ketabton.com

هم دا رنګه الله تعالیٰ فرمایي:

«اَللّٰهُ يَصْطَفِي مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا وَّمِنَ النَّاسِ» (۱)

ترجمه: الله غوره کوی را لیږلي شوي له فرښتو او له خلکو نه.

او دا د دغه ټولو ملتونو د پیروانو لخوا مسلمانانو لکه یهودیان او نصرانیان شول، په اتفاقي توګه یو منلي شوی حقیقت دی، ځکه د وی ګرد د الله او بندګانو ترمنځ د الله له طرفه د حکم او خبر رسولو په برخه کښي د واسطو په ثبوت باندي چي هغه واسطې د انبیاؤ علیهم السلام څخه عبارت دی قائل دي.

پس د دغه واسطو څخه چي څوک منکر شی هغه د دغه ټولو ملتونو او د یانو د پیروانو په نزد په اتفاق سره کافر دی.

هغه سورتونه چي الله پاک په مکه مکرمه کښي نازل کړي دی، لکه سورة انعام، اعراف او د (الر) او (حم) او (طس) والا سورتونه، او د دی په شان نور سورتونه شو، په دغو کښي د هغه مضامینو بیان دی کوم چي د دین اصول او بنسټونه دی لکه

---

(۱) سورة حج: ۷۵ -

Downloaded from: ketabton.com

په الله او رسول ئې او د الله او په ورځ د آخرت باندې ایمان لرل شو -

الله تعالی د خپلو پیغمبرانو سره د نصرت او کومک کولو قیصې او د غه راز یې د کافرانو د هلاکت د ځونګوالی قیصې چې پیغمبران یې د روغ ژن کښلي وو بیان کړي دي او فرمایلي دي:

(وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِينَ. إِنَّهُمْ لَهُمُ الْمَنْصُورُونَ. وَإِنَّ جُنْدَنَا لَهُمُ الْغَالِبُونَ) (۱)

ترجمه: او بیشکه مخکښې صادره شوې ده وعده زمونږ د پاره د رالیږل شویو بندګانو زمونږ، چې بیشکه پیغمبران هم دوی ته به مدد ورکولی شي، او بیشکه لښکري زمونږ خامخا هم دوی غالبه ربریالی، دي (پکافرانو)

هم دغه ډول الله تعالی فرمایلي دي:

(إِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ) (۲)

ترجمه: بیشکه چې مونږ خامخا مدد کوو له خپلو رسولانو سره او ر مدد کوو له، هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړی دی په ژوند د دنیا کښې او په هغه ورځ چې قائم به شي، (ودریږي) شاهدان (له ملائکو، انبیاؤ، او مؤمنانو)

(۱) سورة صفت: ۱۷۱-۱۷۳ - (۲) سورة مؤمن ۵۱ -

Downloaded from: ketabton.com

پر منکرانو باندی۔

او پیغمبران هغه ډول واسطی دی چې د دوی اطاعت، پیروی او تابعداری حتمی او ضروری ده لکه چې الله تعالیٰ فرمایلی دی:

(وَمَا اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا لِيُطَاعَ بِاِذْنِ اللّٰهِ)[1]

ترجمه: او مونږ نه دی لیږلی هیڅ رسول مګر ګمکه موږ دی، د دې لپاره چې د ده حکم دې او منلی شی د الله په حکم سره۔

او همدارنګه الله تعالیٰ فرمایلی دی:

(قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ) (۲)

ترجمه: ووایه ای محمده! دوی ته، که چیری یئ تاسی چې محبت کوئ له الله سره نو پس زما تابعداری وکړئ، نو محبت به وکړی الله پاک له تاسو سره۔

همدغه ډول الله تعالیٰ فرمایلی دی:

(فَالَّذِيْنَ آمَنُوْا بِهٖ وَعَزَّرُوْهُ وَنَصَرُوْهُ وَاتَّبَعُوا النُّوْرَ الَّذِيْٓ اُنْزِلَ مَعَهٗٓ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ -) (۳)

---

(۱) نساء: ۶۴-(۲) آل عمران: ۳۱ - (۳) اعراف: ۱۵۷

Downloaded from: ketabton.com

ترجمه: پس هغه کسان چې ایمان یې راوړ په ده (محمد) او تعظیم یې وکړ دده او مدد یې وکړه ده ته او پیروي یې وکړه د هغه نور (رڼا) چې نازل کړی شوی ده دده سره، دغه ستایلي شوي کسان هم دوی خلاصي موندونکي دي.

او د قرآن کریم په بل آیت کښې الله تعالی فرمایلي

(لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللّٰهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللّٰهَ كَثِيرًا) (۱)

ترجمه: بیشکه ده تاسو لره په (کارد، رسول الله کښې پیروي نیکه د هغه چا له پاره چې امید لري د ثواب (الله) او امید لري، د ثواب او نعمتونو د روستني ورځې (قیامت) او یاد وي الله لره ډیر.

غیر مشروع واسطه

که د واسطې څخه یې مقصد داوي چې د بنده له پاره حتماً داسې واسطې ته ضرورت دی چې ورله په جلب منافع کښې او دفع د اضرارو کښې واسطه او مرستندوی وګرځي او بنده دغه واسطې ته د مثال په توګه د روزې، نصرت

---

(۱) سورة احزاب: ۲۱ -

Downloaded from: ketabton.com

او هدایت غوښتلو په برخه کښې رجوع کوونکی او د سې او د حاجت سرکولو په امید تر بیه د ځینو حاجتو نو د پوره کولو سوال وکړی، نو دا هغه عظیم او خطرناک قسم شرک دی چې الله پاک د هم د غه شرک په اساس مشرکان کافران بللی دی. ځکه چې دوی او د الله تعالی نه په غیر بل څوک متصرفین او سفارشیان نیولی وُو او هغوی یې د نفع او نقصان، مالکان ګڼل، او حال دا چې سفارش د الله تعالی د اذن او اجازې پورې اړه لری، الله پاک په دی باره کښې داسې فرمایلی دی:

(اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَیْنَهُمَا فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰی عَلَی الْعَرْشِ مَا لَکُمْ مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّلِیٍّ وَّلَا شَفِیْعٍ اَفَلَا تَتَذَکَّرُوْنَ) (۱)

ترجمه: الله هغه ذات دی چې پیدا یې کړل اسمانونه او ځمکه او هغه څه چې په منځ د دی دواړو کښې دی په شپږ ورځو کښې بیا استوی وکړه ده په عرش باندې نشته دی تاسو لره بې له ده نه بل څوک دوست او سفارش کوونکی، ایا پند نه قبلوئ تاسو؟.

دا رنګه الله تعالی فرمایلی دی:

---

(۱) سورة السجدة: ۴ -

Downloaded from: ketabton.com

(وَاَنْذِرْ بِهِ الَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ اَنْ يُّحْشَرُوْا اِلٰى رَبِّهِمْ لَيْسَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ وَلِيٌّ وَّلَا شَفِيْعٌ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ-) (۱)

ترجمه: او ويره وه په دې قرآن سره هغوکسانو لره چې ويريږي له دې نه چې جمع به کړی شي دوی خپل پروردګار ته، نه به وي دوی لره سوا د الله نه دوست بچ کونکی او نه سفارشی (شفاعت کونکی) دوی له پاره چې دوی پرهيزګاري وکړي».

فرښتو او انبياؤ سره د تکليف لرې کولو واک نشته.

په دې هکله الله تعالیٰ فرمايي:

(قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ فَلَا يَمْلِكُوْنَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنْكُمْ وَلَا تَحْوِيْلًا أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ يَبْتَغُوْنَ اِلٰى رَبِّهِمُ الْوَسِيْلَةَ اَيُّهُمْ اَقْرَبُ وَيَرْجُوْنَ رَحْمَتَهٗ وَيَخَافُوْنَ عَذَابَهٗ اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُوْرًا-) (۲)

ترجمه: ووايه (ای محمده!) دوی ته چې را وبلئ تاسو هغه کسان چې تاسو ورباندې سوا د الله نه دمدد ګمان کوئ پس هغوی اختيار نه لری د تکليف لرې

---

(۱) انعام: ۵۱ - (۲) الاسراء: ۵۶، ۵۷ -

Downloaded from: ketabton.com

کولو تاسو نه، او نه داسانه ولو او بدله ولو اختیار لری. هغه کسان چې د دوی یې عبادت کوی (رامن د شته درنه وایی) په خپله هغوی خپل رب ته نژدې والی لټوی چې کوم یو به له دوی نه ډیر نژدی وی (الله ته)، او امید لری دوی د رحمت د هغه (الله)، او ویریږی د عذاب د هغه نه یقینا ستاد رب له عذابه ویره کیدای شی.

هم د دغه راز الله تعالی فرمایلی دی:

(قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ لَا يَمْلِكُونَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ وَمَا لَهُمْ فِيهِمَا مِنْ شِرْكٍ وَمَا لَهُ مِنْهُمْ مِنْ ظَهِيرٍ، وَلَا تَنْفَعُ الشَّفَاعَةُ عِنْدَهُ إِلَّا لِمَنْ أَذِنَ لَهُ) الآیه - (۱)

ترجمه: ووایه (دوی ته ای محمده!) وبولئ تاسو هغه معبودان چې گمان به کاوه تاسو په دوی باندی د آلهه وُ) په غیر د الله نه چې د دوی اختیار نه لری د یوی ذری په اندازه، نه په اسمانونو کښی او نه په ځمکه کښی او نشته دی هیڅ حصه او شراکت د دوی د غو معبودانو لره په آسمان او ځمکه کښی (پورته او ښکته)، او نشته دی د غه الله لره د دوی نه هیڅوک

---

(۱) سورة سبا: ۲۲، ۲۳ -

Downloaded from: ketabton.com

مددګار، او کټه نه رسوی شفاعت او سفارښت په نزد دالله، مګر شفاعت د هغه چا چې اجازه ورکړي الله هغه ته، یا د هغه چا لپاره چې د هغه په حق کښې د شفاعت کولو اجازت وشي.

د سلفو یوې ډلې ویلي دي: ځنې قومونه و وچې هغوئ به د هغو حاجتونو د سرکولو له پاره عیسی علیه السلام او عزیر علیه السلام او فرښتې بللې، نو الله پاک دو یته د دې حقیقت څرګند ه ونه وکړه چې فرښتې او انبیاء نه د دوی نه د تکلیف لرې کولو واک لري، او نه د دو بېنه د تکلیف د بدله ولو اختیار لري، بلکښې هغوی په خپله الله پاک ته د نژدې کیدو او تقرب هڅه کوی او د الله تعالی د رحمت حاصله ولو په امید دي، او د هغه د عذاب نه په ویره کښې دي.

په الوهیت سره د فرښتو او انبیاؤ نیول کفر دی، الله تعالی فرمایلی دي:

(مَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنْ يُّؤْتِيَهُ اللّٰهُ الْكِتَابَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُوْلَ لِلنَّاسِ كُوْنُوْا عِبَادًا لِّيْ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ كُوْنُوْا رَبّٰنِيّٖنَ بِمَا كُنْتُمْ تُعَلِّمُوْنَ الْكِتٰبَ وَبِمَا كُنْتُمْ تَدْرُسُوْنَ، وَلَا يَاْمُرَكُمْ اَنْ تَتَّخِذُوا الْمَلٰٓئِكَةَ وَالنَّبِيّٖنَ اَرْبَابًا

Downloaded from: ketabton.com

أَيَأْمُرُكُمْ بِالْكُفْرِ بَعْدَ إِذْ أَنْتُمْ مُسْلِمُونَ (۱)

ترجمه: مناسب نه دی هیڅ بشر لره چې ورکړي الله پاک هغه ته کتاب او پوهه په دین او پیغمبري او بیا ووایي خلقو ته چې تاسي زما بندګان (عبادت کونکي) شئ بې له الله څخه، لیکن (داسي کس وائي) شئ تاسو الله والاخلق (عالمان عاملان) په سبب د دې چې ښودنه کوئ د الله د کتاب، او په سبب د دې چې تاسو زده کوئ کتاب، او امر نه کوي تاسو ته (پیغمبر) چې ونیسئ تاسو پرښتي او پیغمبران حقدار د بندګی، آیا حکم به کوي تاسو ته په کفر سره پس له هغې چې تاسي مسلمانان شوي یئ.

الله پاک په دې مبارکو آیتو نو کښې دا خبره روښانه کړه ملائکي او انبیاء د بندګۍ او عبادت حقدار ګڼل کفر دی پس څوک چې پرښتي او پیغمبران په داسي توګه واسطې نیسي چې د مصیبتونو د لري کولو په وخت کښې ورته د رامد د شه آواز و نه کوي، په دې باندي کوي (مافوق الاسباب تر بینه) د ګټو د لاسته راوړلو او ضرر دفع کولو غوښتنه کوي، له دوی نه د ګناه د مغفرت، د زړه له پاره د هدایت، او د غه راز د مشکلاتو د حل او د روزي د پراخ والي په برخه کښې

(۱) سورة آل عمران: ۷۹، ۸۰

Downloaded from: ketabton.com

سوال کوي نو د غه شخص د ټولو مسلمانانو په اتفاق سره کافر ګڼل کیږي. (۱)

علماء د رسول الله صلی الله علیه وسلم او امت ترمنځ یې یواځې د اسلام د تبلیغ په ساحه کښې واسطې دي.

که څوک د انبیاؤ نه روسته دیني عالمان د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم او د ده د امت ترمنځ په دې شان دواسطو په توګه قبلوي چې عالمان د و ته دین رسوي، په دین یې پوهه وي، ادب ور ته ور ښا ی

(۱) کله چې پرښتو او انبیاؤ په حق کښې دا عقیده ساتل چې د وی د عبادت حقدار دي کفر بلل کیږي، نو بیا د صفو کسانو د کفر په برخه کښې څه سوال پیدا کیږي چې هغوی د وی نه په غیر په مخلوق کښې نور کسان او کاهنې بوتې او داسې نور شیان د الله تعالی سره د الله په صفاتو کښې شریک او د عبادت مستحق بولي. او چې کله پیغمبران د اسبابو نه پرته او ملائکې د الله د حکم او درکړې شوې صلاحیت څخه سوا د خیر او شر رسولو په برخه کښې د ځان او بل له پاره اختیار نه لري او د الله په حضور کښې خپلې بې وسۍ څرګندوي او نه کوي او د عبادت نه یې سر غړونه د ځان لپاره جرم ګڼي نو بل به څوک وي چې هغه به د الله پاک په صفاتو کښې د الله سره برخه وال وي او یا به د اختیار خاوند وي. په قرآن کریم په دې اړه زښته زیاتې آیتونه وجود لري. (ژباړن)

Downloaded from: ketabton.com

او د متقدی په صفت د هغوی د خبرو پیروی کیږی، نو دا خبره یی درسته او پرځای ده چه دغه کسان د دینی علوم پوهان، چی کله په یوه مسئله باندی را جمع شی او اتفاق وکړی، نو اجماع یی په قطعی او یقینی توګه حجت ده ځکه چی دوی ټول په اجتماعی ډول سره په ضلالت باندې نه غونډیږی.

او که چرته د دوئ تر منځ په کوم شی کښی اختلاف ولیدل شی نو حکم یی د الله تعالیٰ په کتاب (قران مجید) کښی او د رسول الله صلی الله علیه وَسَلم په احادیثو کښی لټول پکاردی چی هغې ته یی را جع کړی ځکه چی یو یی په یوا ځې ځان په مطلق ډول سره معصوم نه دی بلکښی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پرته نور په ټولو خلقو کښی د هر کس د کلام یعنی خبرو یوه برخه یی د منلو وړ یی، منل کیږی او یوه برخه یی د منلو وړ نه وی، پریښو دل کیږی.

د علماؤ د مقام په هکله رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«العلماء ورثة الانبياء، فان الانبياء لم يورثوا دينارا ولا درهما وانما ورثوا العلم فمن اخذه فقد اخذ بحظ وافر» جزء من حديث رواه ابوداؤد والترمذي بسند صحيح.

Downloaded from: ketabton.com

ترجمه: علماء د پیغمبرانو وارثان دی او شک نشته چې
پیغمبرانو د ځانه ردسته دینار او درهم په میراث
سره نه دی پرېښودی بلکښې هغوی په یقیني ډول
سره پرېښې دی نو چا چې د غه علم واخست او زده
یې کړ نو ده پوره برخه تر لاسه کړه - دا د هغه حدیث
جزدی چې ابوداود او ترمذی په صحیح سند سره
روایت کړی دی۔

او څوک چې د مجازی پاچا دوزیرانو او مرستیالانو
په شان چې پاچا او رعیت په منځ کښې د وساطت و ندک
لری، د الله او مخلوق ترمنځ هم د غه ډول واسطې په
دی شان سره ثابته وی چې د غه واسطې الله تعالیٰ
ته د مخلوق اړتیا وی وړاندی کوی او الله د دغو
واسطو په وساطت او سفارش سره بنده ګانو ته لارښوونه کوی او روزی ورکوی، پس په دی اساس
مخلوق خپلې غوښتنې هغوی ته (واسطوته) وړاندی
کوی، او هغوی په دې باره کښې بیا د الله تعالیٰ څخه
سوال کوی او مثال یې داسې دی لکه څنګه چې د
پاچایانو په وړاندی واسطې قرار لری چې د غه واسطې
په دی خاطر چې له نورو خلقو په نسبت د پاچایانو
په نزد دَ اعتبار له پلوه ځانګړې مرتبې لری. نو
ددی دَ اولس یعنې رعیت اړتیا وی هم پاچایانو ته په

Downloaded from: ketabton.com

گوته کوی او هم یې د پوره کولو مطالبه او غوښتنه کوی، او عام خلق یعنې اولس خپلې مطالبې د غو واسطو (وزیرانو او مرستیالانو) ته وړاندې کوی، او دا له دې امله چې د پاچا نه مستقیماً نیغ په نیغه، سوال کول ورته یا بې ادبي معلومیږي، او یا دا چې په مستقیمه توګه د حاجت منولتوا د پاچا نه په غوښتنه کښې ورته واسطوته په مراجعه کولو کښې یا ته فائده دی ځکه دغه واسطې (مشیران، وزیران او مرستیالان) د حاجت منو په پرتله سره د پاچا په نزد خاص او نژدې مقام لري.

پس هغه څوک چې په دغه ترتیب سره د واسطو په ثبوت باندې عقیده لري، نو هغه کافر او مشرک دی، او واجب دی چې د توبې ویستلو غوښتنه ترې وشي که توبه یې وویستله ښه ده، او که توبه یې ونه ویستله نو قتل یعنې وژل دې وژلی شي.

او دا هغه کسان دي چې خالق یې د مخلوق سره تشبیه کړي دي او الله (ج) سره یې شریکان پیدا کړي دي؛ او په قرآن کریم کښې په دغو کسانو باندې رد کول په دومره زیاته اندازه سره لیدل کیږي چې په دغه فتوی کښې ځای کیدلی نه شي.

Downloaded from: ketabton.com

دخلکواو پاچایانو ترمنځ واسطې درې ډوله دي.

د پاچایانو او خلکو ترمنځ چې کومې واسطې قرار لري د هغې درې وجې دي:

لومړۍ وجه دا ده چې دغه واسطې پاچا ته د خلکو د حال احوال څخه کوم چې پاچا ته په هغې باندې علم نه وي خبر ورکوي، نو که څوک وايي چې الله (ج) د بنده ګانو په احوال باندې نه خبریږي مګر هله خبر شي چې ځینې ملائکې او انبیاء او یا نور څوک ورته د بنده ګانو د حال څخه اطلاع ورکړي، نو دا سړی کافر دی. ځکه چې الله پاك په پټو یعنې په ورو او ډیر پټو خبرو باندې پوهیږي، او هغه څه چې په ځمکه او آسمان کښې پټ دي د الله پاك د علم څخه خارج نه دي (وَهُوَ السَّمِیعُ الْبَصِیرُ) دا الله ښه آوریدونکی او ښه لیدونکی دی (الله) په مختلفو ژبو سره د بیلا بیلو حاجتونو د غوښتلو په برخه کښې ناري او فریادونه آوري، او د یو آواز اوریدل، دی د بل آواز د اوریدلو څخه نه منع کوي، دغه راز دی په کثرت د سوالونو سره غلطیږي نه، او د غوښتونکو په غوښتنه سره خفه کیږي نه.

دویمه وجه دا ده چې پاچا د معاونینو (مرستیالانو) د مرستې نه پرته، نه د ملت د چارو ته بیر کولی شي او نه د د ښمنانو په مقابل کښې د فاع کولی شي نو هغه

Downloaded from: ketabton.com

ورته د معاونینو او مرستیالانو د نیولو ضرورت وي
ځکه چي دي بې وسي او کمزوري دي او الله جل جلاله د دغه
ناقصو صفتونو څخه پاك دي د چاکومك او مرستي ته احتیاج
نه لري؛ الله تعالیٰ فرمایلي دي؛
(قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ
لَا يَمْلِكُوْنَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي
الْاَرْضِ وَمَا لَهُمْ فِيْهِمَا مِنْ شِرْكٍ وَّمَا لَهٗ
مِنْهُمْ مِّنْ ظَهِيْرٍ۔) (۱) ترجمه يوځل مکينې شوي
ده و دي کتل شي۔

د غه ډول الله تعالیٰ فرمایلي دي:

(وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَّ
لَمْ يَكُنْ لَّهٗ شَرِيْكٌ فِي الْمُلْكِ وَلَمْ يَكُنْ
لَّهٗ وَلِيٌّ مِّنَ الذُّلِّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيْرًا۔) (۲)
ترجمه: ووایه ټوله ستاینه الله تعالیٰ لره ده هغه ذات
لره ده چي نه یې ولد نیولی دی او نه ورسره څوك په
بادشاهۍ کښې شریك شته دی، او نه ورلره څوك
مددګار شته د بې وسۍ له وجې نه لکه چي ذکتاب بیان
وایي، او په لویۍ سره یا د کړه الله لره (هر وخت)
په لویۍ کامله سره۔

---

(۱) سبا: ۲۲ - (۲) سورة بنی اسرائیل: ۱۱۱ -

Downloaded from: ketabton.com

رشاه صاحب په موضح القرآن کښې لیکي: په الله باندې بې وسې یعنې چې رته راځي نه چې مدد کار ته یې ضرور پیښ شي، ژباړن

د اسبابو په عالم کښې چې څه موجودات دي الله (ج) د ټولو خالق، پالونکی او مالک دی او هیڅ چا ته احتیاج نه لري غني او بې پروا دی، او د الله تعالی نه ماسوا چې هر څوک دي ټول الله پاک ته محتاج دي.

اما کوم چې پاچایان دي هغوی د خپلو مرستیالانو معاونت ته احتیاج او ارتیا لري بلکښې حقیقت دا دی چې د دې په بادشاهۍ کښې د هغوی سره برخه وال دي والله (ج) یودی د ده سره هیڅوک په سلطنت (واکمنۍ) کښې شریک نشته لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ.

د دې وجه دا ده چې پاچا تر هغه وخت پورې چې د بل چا له پلوه تشویق نه شي د ده سره د ملت په حق کښې د فائدې، احسان او شفقت کولو قصد نه پیدا کیږي، نو کله چې پاچا په دې ارتباط یا د خپلو ناصحینو (مشاورینو) له خوا چې د پاچا د محبوبیت خیال ورسره وي مخاطب شي او باور ته یې دې مورد کښې په دا سې توکه د یو چا له خوا مشوره ورکړل شي چې د پاچا سره هم امید پیدا شي، او هم ورسره خوف (ویره) پیدا شي، نو بیا د غه وخت

Downloaded from: ketabton.com

د پاچا په عزم او ارادہ کښی د ملت دارتیاوو د رفع کولو په باب چمتووالی رامنځ ته شی، او دا یا له دی امله چې د ناصح او مشیر سپارښت د ده په زړه باندی اثر (اغیزه) کړی دی، او یا دا چې د مشوره ورکونکی د وینا تر تاثیر لاندی کومی چې تشویق او تخویف د وارہ افاده کوونکی دی.

اما الله تعالی د ټولو اشیاؤ رب او مالک دی، او موږ چې څو مره په خپل او لاد باندې ترحم لری الله پاک د دې نه هم زیات په خپلو بندہ ګانو باندی مهربان دی! -

د غه رول د ټولو اشیاؤ خلقت د الله پاک د ارادی پوری اړه لری که الله پاک د کوم شیز د پیدا کیدو اراده کړې وی نو هغه په وجود کښی راځی او که الله تعالی یی اراده نه وی کړی نو د هغه وجود بیا امکان نه لری.

او د ه (الله) چې کله د ځینو بندہ ګانو له پاره د کټو ترتب د ځینو نورو کسانو پودې مربوط کړځولی وی نو بیا د غه کسان د هغوی سره مرسته پیل کړی، د عاکول ورته شروع کړی او په دې برخه کښی ور له په سفارش بنا وکړی او دغسی د دی نور امثال هم داخله، پس دا الله تعالی هغه ذات دی چی د دغه ټولو شیانو خالق دی، او دا هغه ذات دی چی د احسان کونکی د عاګوی او سفارش والا یه زړه کښی یی د دعا، سفارش او نیکی کولو اراده پیدا کړی ده.

Downloaded from: ketabton.com

او د دې امکان هم نشته چې داسې څوک دې موجود وسي چې هغه دې الله (ج) لره د هغې اراده پرخلاف باندې مجبور کړي او یا دې هغه الله پاک ته په هغه څه باندې مجبور کړي چې الله پاک په هغې باندې (العیاذ بالله) علم نه درلوده، او داسې څوک هم نشته چې هغه الله پاک لره د اُمید او ویرې ورکولو سبب وګرځي او هم دغه وجه ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

لا یقولن احدکم اللهم اغفرلي ان شئت...الخ یعنې ستاسو څخه یو کس دې داسې نه وایي چې: ای الله! که ستا خوښه وي نو بخښنه راته وکړه، ای الله! که ستا خوښه وي را باندې رحم وکړه. بلکې په یقین سره دې سوال کوي ځکه چې الله پاک مختار دی څوک یې مجبوره کولی نشي.

شفاعت د الله پاک د اذن پورې اړه لري

سفارشیان به د الله تعالی په حضور کښې د هغه د اجازې نه پرته لکه چې الله (ج) فرمایي سفارش نه شي کولی (مَنْ ذَا الَّذِیْ یَشْفَعُ عِنْدَهٗ اِلَّا بِاِذْنِهٖ) (۱) څوک دی هغه کس چې سفارش به وکړي په نزد د ده مګر په اجازت د ده. او الله پاک فرمایلي دي:

---

(۱) سورة بقره: ۲۵۵

Downloaded from: ketabton.com

(قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ .... الاية (۱)

همدارنګه الله تعالیٰ فرمایلي دي: (وَلَا يَشْفَعُوْنَ إِلَّا لِمَنِ ارْتَضٰى) (۲) شفاعت به نه کوي مګر د هغه چا له پاره چې الله پرې راضي شوی وي. پس دا خبره یې په ډاګه کړه چې هر هغه څوک چې په غیر د الله (ج) څخه بللی شي، هغه نه واکمن دی او نه ورلره د الله په واکمنۍ کښې برخه شته او نه دی د الله لپاره معاون دی او شخ نشته چې سفارش یې د الله د اذن پرته کېږي نه شي رسولی.

اما پاچایان داسې نه دي، ځکه د پاچایانو په حضور کښې سفارش کوونکي کله د قدرت خاوندان وي، کله ورسره په سلطنت یعنې واکمنۍ کښې شریکان وي او کله د پاچایانو سره په دولتي چارو کښې مرستیالان او کومکیان وي. نو د غه کسان او د دوی نه علاوه نور کسان پرته له دې چې د پاچا څخه اجازه واخلي د پاچا په وړاندې سفارش کوي او د پاچا له خوا یې سفارش منل کیږي او دا کله له دې امله چې پاچا ورته احتیاج لري، او کله له دې وجې نه چې پاچا ترسیږي او ویره حس کوي، او کله یې ورله د هغه احسان او انعام په مقابل کښې د بدلې او مکافات په توګه قبولوي چې دوی د پاچا سره کړي وي

(۱) سورة سبا: ۲۲-۲۳ (۲) سورة انبياء: ۲۸.

Downloaded from: ketabton.com

بناءً دی دخپلی نبیٔ او خوی ٔ سفارش له دی وجې نه قبلوی
چې دی خپلی ځوی او نبیٔ ته احتیاج لری ځکه د ځوی او نبیٔ
مخالفت یې ارو مرو په ضرور تما میږی، د غه راز دی د خپل
نوکر سفارش هم نه ردکوی، ځکه که ردکوی یې نود کاسه
داویره پیدا کیږی چې پایه یې د امر خمنه سرغړ وه ونه
وکړی، او یا به ده ته په زیان رسولوکښې کوښښ وکړی
د بنده ګانو ټول خپل منځی سفارشات په همدی
ترتیب سره صورت مومی، پس هیڅ یوکس د بل چا سفارش
نه قبلوی مګر له دی امله یې قبلوی چې بایې ترینه تمه
کیږی او یایې ترینه ویره کیږی. او الله تعالی هیڅ چا ته
تمه نه لری، د هیڅ چا نه د یریږی نه، او هیڅ چا ته احتیاج
نه لری، بلکښې هغه غنی ذات دی، او فرمایلی یې دی:

«اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِی الْاَرْضِ
وَمَا یَتَّبِعُ الَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ
شُرَکَآءَ اِنْ یَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنْ هُمْ اِلَّا
یَخْرُصُوْنَ ـ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ
هُوَ الْغَنِیُّ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ (۱)

ترجمه: خبردار یقینا د الله تعالی په اختیارکښې دی
هغه څوک چې په اسمانونو کښې دی، او هغه څوک چې په
ځمکه کښې دی. او تابعداری نه کوی هغه کسان چې په غیر

---

(۱) سورة یونس: ۶۶ - ۶۸

Downloaded from: ketabton.com

د الله نه شریکانو لره بولې، او تابعداری نه کوی د ګې مګرد کمان، او نه دی دوی مګر د زوغژن، اټکل کاروونه کوی ... وایی دوی نیولی دی الله تعالی ولد (نازولی) پاك دی الله تعالی، دی بې نیازه دی، خاص ده لره دی هغه څه چې په آسمانونو کښې دی او هغه څه چې په ځمکه کښې دی.

او مشرکانو چې کوم سفارشیان نیولی دی دوی د هم دغو مشرکانو له خوا سفارشیان ګنڼل کیږی، الله تعالی فرمایلی دی:

﴿ وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَٰؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا عِندَ اللَّهِ قُلْ أَتُنَبِّئُونَ اللَّهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴾ (۱)

ترجمه: او بندګی کوی دا خلق په غیر د الله نه د هغه چا چې نه ضرر رسولی شی د دوی ته او نه نفع رسولی شی د ګې ته، او وایی دوی چې دا کسان سفارشیان زمونږ دی د الله تعالی په دربار کښې، د دوی ته نه آیا تاسو خبروکوئ الله تعالی ته د هغه څه چې نه دی پوهه په هغې باندی په آسمانونو کښې او نه په ځمکه کښې (یعنی داسی شی هیڅیرې نشته)، پاك دی الله تعالی او ډیر لوی دی له هغو اشیاؤ څخه چې دوی یې شریکوی د الله (ج) سره. او هم دا دنګه الله تع

---

(۱) سورة یونس: ۱۸

Downloaded from: ketabton.com

فرمايلي دي:

(فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ قُرْبَانًا اٰلِهَةً ط بَلْ ضَلُّوْا عَنْهُمْ وَ ذٰلِكَ اِفْكُهُمْ وَمَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ.) (۱)

ترجمه: پس ولې مرسته و نه کړله دوی سره هغو چې نيولي وو دوی هغوی لره معبودان بې له الله نه د پاره د نژدې والي الله ته بلکېنې ورک شول (دعغا په وخت کښې) له دوی څخه او همدا دی دروغ د دوی او هغه څه چې تړي يې دوی (پر الله).

او د مشرکانو د عقائدو نه د خبرورکولو په لړکې يې داسې فرمايلي دي:

(مَا نَعْبُدُهُمْ اِلَّا لِيُقَرِّبُوْنَا اِلَى اللّٰهِ زُلْفٰى الآيه (۲)

ترجمه: (او وايي دوی: عبادت نه کوو مونږ د دوی مګر د دې له پاره چې نژدې کړي دوی مونږ الله تعالى ته په مرتبه د قرب کښې.

د غه راز الله تعالى فرمايلي دي:

(وَلَا يَأْمُرَكُمْ اَنْ تَتَّخِذُوا الْمَلٰئِكَةَ وَالنَّبِيّٖنَ اَرْبَابًا.) الاية (۳)

او همدا رنګه يې فرمايلي دي:

(قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ مِنْ دُوْنِهٖ

(۱) سورة احقاف: ۲۸ (۲) سورة زمر: ۳ (۳) ال عمران: ۸۰

Downloaded from: ketabton.com

فَلَا يَمْلِكُوْنَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنْكُمْ وَلَا تَحْوِيْلًا. أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ يَبْتَغُوْنَ إِلٰى رَبِّهِمُ الْوَسِيْلَةَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ وَيَرْجُوْنَ رَحْمَتَهٗ وَيَخَافُوْنَ عَذَابَهٗ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُوْرًا- (۱)

مګر سفارش والا او دعا کوونکي صرف هغه ډول شفا او دعا کولې شي د کوم په باره کښې چې ورته اجازه شوې وي، پس دی هغه ډول شفاعت نه شي کولې د کوم څخه چې منع راغلې يې، لکه د مشرکانو په حق کښې سفارش کول او ور له بخښنه غوښتل شو الله تعالی فرمايلي دي:

(مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا أَنْ يَّسْتَغْفِرُوْا لِلْمُشْرِكِيْنَ وَلَوْ كَانُوْٓا أُولِيْ قُرْبٰى مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ، وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ إِبْرٰهِيْمَ لِأَبِيْهِ إِلَّا عَنْ مَّوْعِدَةٍ وَّعَدَهَآ إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهٗٓ أَنَّهٗ عَدُوٌّ لِّلّٰهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ إِنَّ إِبْرٰهِيْمَ لَأَوَّاهٌ حَلِيْمٌ-) (۲)

ترجمه: نه دي روا پيغمبر لره او نه مسلمانانو لره چې بخښنه وغواړي د مشرکانو له پاره اګرکه وي دوی خاوندان د خپلوۍ پس له هغې نه چې ښکاره شو دوی ته چې دوی دوزخيان دي، او نه وه بخښنه غوښتل د ابراهيم (ع) د خپل

---

(۱) بنی اسرائيل: ۵۷ (۲) التوبة: ۱۱۳، ۱۱۴ -

Downloaded from: ketabton.com

پلار له مکر په سبب د وعدی وه چی کړی وه (پلار) هغه وعده د دا (ابراهیمؑ) سره پس هر کله چی ښکاره شوه ابراهیمؑ ته چی دی دښمن د الله دی نو بیزاره شو هغه نه بیشکه ابراهیمؑ خامخا ډیر نرم زړی او صبرناک وُ. او دغه ډول الله تعالیٰ د منافقانو په هکله فرمایلی دی:

(سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ اَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ اَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ لَنْ يَغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ) (۱)

ترجمه: برابره خبره ده په حق د دوی کښی که وو غواړی ته بخښنه د دوی له پاره (وکه یی) و نه غواړی د دوی له پاره، هیڅ کله به و نه بخښی الله دوی لره.

او په صحیح حدیث کښی ثابته شوی ده چی الله پاک خپل پیغمبر د مشرکانو او منافقانو په حق کښی د بخښنی غوښتلو څخه منع کړی دی، او د دی خبری څخه یی خبر ور کړی دی چی دی (الله) د وی ته بخښنه نه کوی (د فرمایلی یی دی:

(اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ) (۲)

ترجمه: یقینا الله پاک نه بخښی چی شرک او کړی شی د هغه سره، او بخښی هغه ګناهونه چی کم دی د دینه هغه چالره چی اراده وفرمایی د مغفرت یی. دغه ډول

---

(۱) منافقون: ۶ (۲) سورة النسآء: ۴۸ -

Downloaded from: ketabton.com

فرمایلی دی:

(وَلَا تُصَلِّ عَلٰی اَحَدٍ مِّنْهُمْ مَاتَ اَبَدًا وَّلَا تَقُمْ عَلٰی قَبْرِهٖ اِنَّهُمْ کَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَمَاتُوْا وَهُمْ فٰسِقُوْنَ) (۱)

ترجمه: او هیڅ کله مه کوه مونځ (د جنازې) په هیڅ تن له دغو (منافقانو) چې مړشي، او مه درېږه په قبر دده (د دعاء استغفار، یا تدفین د اهتمام له پاره) بیشکه دغه (منافقان) کافران شوي دي په الله تعالی او په رسول دهغه، او مړه شوي دي د دې په داسې حال کښې چې دوی نافرمان وو. همدا رنګه الله تعالی فرمایلي دي:

(اُدْعُوْا رَبَّکُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ.) (۲)

ترجمه: و بولئ تاسې خپل رب لره (هر وخت) په زارئ عذر او په پټه سره بیشکه چې الله نه خوښوي تیریدونکي (له شرعي حدودو نه په دعا کښې). او په دعا کښې شرعي حدو د څخه تجاوز دا دی چې بنده د الله پاک څخه د هغه کار کول غواړي چې الله پاک هغه کار نه کوي د مثال په توګه دی نبي نه دی او د الله پاک څخه د پیغمبرۍ مقام غواړي، یا د مشرکانو له پاره د مغفرت سوال کوي او داسې نور شوا و یا دا چې د الله پاک څخه د ګناه او د

(۱) سورة توبه: ۸۴ (۲) اعراف: ۵۵

Downloaded from: ketabton.com

معصیت سوال کوی لکه په کف، فسق او نافرمانی کولو سره د الله (ج) نه د کومک غوښتنه کوی، پس سفارش کونکی هغه څوک دی چی الله پاک ورته د سفارش کولو اجازه کړی وی، او بیا دی هغه ته د دا غوښتنه کولو شی په دغه غوښتنه (دعا) کښی ګناه نه وی، که چرته یو تن یی داسی څه وغواړی چی ورله مناسب نه وی نو بیا په هغی باندی تېنګار نه کوی لکه چی هغوی په هغی باندی د تېنګار کولو څخه لکه چی الله تعالی فرمایی معصوم دی:

﴿ إِنَّ ابْنِي مِنْ أَهْلِي وَإِنَّ وَعْدَكَ الْحَقُّ وَأَنْتَ أَحْكَمُ الْحَاكِمِينَ ﴾ (۱)

ترجمه: بیشکه ځما ځوی ځما د اهل څخه دی، او بې شکه وعده ستا سو حقه ده، او ته ډیر لوی حکم کونکی یی،

بیا الله پاک وفرمایل:

﴿يَا نُوحُ إِنَّهُ لَيْسَ مِنْ أَهْلِكَ إِنَّهُ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ فَلَا تَسْأَلْنِ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنِّي أَعِظُكَ أَنْ تَكُونَ مِنَ الْجَاهِلِينَ. قَالَ رَبِّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَسْأَلَكَ مَا لَيْسَ لِي بِهِ عِلْمٌ وَإِلَّا تَغْفِرْ لِي وَتَرْحَمْنِي أَكُنْ مِنَ الْخَاسِرِينَ﴾. (۲)

ترجمه: ای نوحه! یقینا دی ستا د اهل څخه نه دی

---

(۱) سورة هود: ۴۵ (۲) هود: ۴۶، ۴۷

Downloaded from: ketabton.com

ځکه چې دی د داسې عمل والا دی چې نیت نه دی، پس د عا مه غواړه زمانه د هغه چا په باره کښې چې نشته دی تالره د هغه (د ایمان) په باره کښې یقین بیشکه زه پند درکوم تا ته چې (نه) شې ته له جاهلانو څخه وویل ده: (نوح) ای ربه حما! یقیناً زه پناه غواړم پتا سره له دی چې سوال وکړم له تا نه د هغه چا په باره کښې چې نشته ما لره د هغه په ایمان باندې یقین او که ته بخښنه و نه کړې ماته او رحم و نه کړې په ما باندې نو شم به زه له زیان کارانو نه۔

او هر سفارش کونکی، او دعا والا چې د الله پاک په دربار کښې سوال او سفارش او دعا د الله تعالیٰ د قضا قدر او مشیت پورې اړه لري پس د الله هغه ذات دی چې قبلونکی د سفارش دی او اجابت کونکی د دعا دی او هغه ذات دی چې د سبب او مسبب دواړو خالق دی او د ا د عا د هغو اسبابو د جملې څخه ده کوم چې د الله تعالیٰ له طرفه مقدر شوی دی۔

پس کله چې حقیقت په دې ترتیب سره دی بیا نو محض اسباب مؤثر گڼل بې له دې چې مؤثر حقیقی ته یې نسبت وشي، شرک فی التوحید گڼل کیږي او د سبب څخه په دې وجه کار نه اخستل چې په دې برخه کښې یې سببیت تثبیت نه دی دا د عقل تنقیص

Downloaded from: ketabton.com

او نیمګړتیا وجه ده او په کلي توګه د اسبابو څخه سترګې پټول چې هیڅ وجود نه لري داد شریعت بې اعتباره ګڼل او ورباندې داغ لګول دي، بلکښي په بنده باندې دالازم دي چې دې به متوکل علی الله او سیږي او دده څخه به سوال او غوښتنه کوي او امید به ترینه ساتي او دا ځکه چې الله پاک دبنده دمشکل دحل له پاره د مخلوق دعا او ځني نورشیان چې خوښ دي وي اسباب مقرر کړي دي -

دادني په حق کښي داعلی له طرفه دعا غوښتل او دغه راز بالعکس دواړه مشروع طریقې دي

دعا غوښتل یوه مشروع او جائزه طریقه ده چې لوړې مرتبې خاوندیې د ټیټې درجې د څښتن له پاره کولې شي او د ټیټې درجې والا یې د لوړې درجې خاوند په برخه کښي کولی شي لکه چې دانبیاؤ علیهم السلام څخه به د شفاعت او دعا غوښتنه کیدله او دغه راز مسلمانانو د استسقاء یعنی دباران کیدلو په برخه کښي د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د سفارښت او دعا غوښتنه کړې وه (۱) او همدارنګه بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه بعد عمر رضی الله عنه او نورو مسلمانانو په ګډه سره د

---

(۱) دادا علی له طرفه د ادنی په حق کښي د دعا کولو مثالونه دي

Downloaded from: ketabton.com

استسقیٰ په باره کښې د نبي علیه السلام تره عباس رضی الله عنه د دعا کولو له پاره غوره که او وړاندې یې کړه -

د غه ډول خلك به د قیامت په ورځ د انبیاؤ علیهم السلام څخه د شفاعت غوښتنه کوي چې محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په دوی کښې ډیر د سفارش کوونکو سردار دی، او د یو شمیر خاصو سفارشونو ویاړ هم د همدغه په برخه دی، اما د دې سره سره بیا هم په صحیحو کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دا خبره ثابته ده چې دا فرمایلي دي: (۱)

«اذا سمعتم المؤذن فقولوا مثل مایقول ثم صلوا علیّ فانه من صلی علیّ مرة صلی الله علیه عشرا ثم سلوا الله لی الوسیلة فانها درجة فی الجنة لاتنبغی الا لعبد من عباد الله وأرجوان اکون ذلك العبد فمن سأل الله لی الوسیلة حلت له شفاعتی یوم القیامة». (۲) یعنی کله چې تاسې د مؤذن څخه اذان آورئ نو تاسې هم هغه څه ووایاست چې هغه یې وایي (د اذان کلمات ورسره تکرار کړئ) او بیا ورپسې پر ما باندې درود ووایاست ځکه هغه

---

(۱) دادلیل له پلوه د اعلی درجې د غوښتنې له پاره د دعا غوښتلو مثالونه ذکر کیږي. (ژباړن) -

(۲) دا یوازې مسلم روایت کړی دی -

Downloaded from: ketabton.com

ځکه چې پر موږ باندې يو واړ درود وو وايي الله پاک په هغه باندې لس کرتې درود وائي بیا وروسته دالله تعالی څخه زما له پاره وسیله وغواړئ ځکه د غه وسیله په جنت کښې یوه درجه ده چه دالله تعالی د بندګانو څخه د یو بنده له پاره اختصاص شوې ده، او زه هیله کوم چې دغه بنده زه وو. وروسته بیا څوک چې زما لپاره دالله پاک څخه وسیله اوغواړي نو د قیامت په ورځ زما د شفاعت له پاره مستحق ګرځیده.

دغه راز عمر رضی الله عنه چې کله دعمرې کولو لپاره تللو او رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته په مخه ښه ویله نو عمر رضی الله عنه ته یې وفرمایل: (یا اُخَیَّ لَا تَنسَنَا مِنْ دُعَائِكَ.) (۱) اې روره که! ما په دعاکښې له یاده مه او باسه.

پس نبي علیه السلام د خپل امت څخه غوښتي دي چې ده له پاره دعا وغواړي، لیکن دغه غوښتنه ددې جهلې څخه نه ده چې دې کړې ده د خپلو امتیانو څخه سوال کوي بلکښې دی دوی ته په دې باندې داسې امر کوي لکه څرنګه چې دی ورته د نورو نیکو اعمالو په باره کښې په کوموچې ثواب حاصلیږي، امر کوي، د رسول الله صلی

---

(۱) ددې حدیث په سند کښې عاصم بن عبید الله دئ او هغه ضعیف دئ.

Downloaded from: ketabton.com

الله علیه وسلم له پاره د خپلوا متیانو په ټولو اعمالوکښې چې د دوی له خوا تر سره کیږی د دوی په شان اجرئ ځکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابته ده چې ده فرمایلی دی: مَنْ دَعَا اِلیٰ هُدیٰ .... الخ

یعنی چا چې د نیکئ په لوری بلنه ورکړې نو ده لپاره د هغو کسانو د ثواب په اندازه اجردئ چې د ده تابعداری وکړی بې له دی چې د دوی په اجر کښې څه کمروالی راشی او څوک چې د ګمراهئ په لوری بلنه ورکوی نو پر ده باندې به د هغه چا د ګناه په اندازه ګناه پیټی کیږی چې د ده پیروی کړې وی بې له دی چې د دوی د ګناهونو په بارکښې څه کمروالی راشی۔

پس په دا سی حال کښې چې رسول الله صَلی الله علیه وسلم د هر نیک عمل په لوری خپل امت ته بلنه ورکړې ده، نو د ده له پاره د دوی په ټولو هغو اعمالوکښې چې په هغې کښې د ده تابعداری کړې وی، د دوی په شان اجر دی۔

د غه ډول کله چې دوی په رسول اکرم صلی الله علیه وسلم باندې درود وائی، نو الله پاک په هر یو هغوی باندې لس ځلی درود وائی رحمت لیږی، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له پاره د دوی د اجر په شان اجرحاصلیږی او دا څرګنده خبره ده چې الله پاک د رسول الله صلی الله علیه وسلم

Downloaded from: ketabton.com

په حق کښې د دوی د دعا اجابت کوی او شک نشته چې الله تعالیٰ د دغه دعا په واسطه سره دوی ته ثواب یعنې بدله ورکوی، او کومه فائده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته رسیږي هغه د دغه دعا په واسطه سره د الله تعالیٰ د لوري نعمت کرځي.

دُعا داعِيْ او مَدعوٌّ لهٔ دواړو ته کټه رسوي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په صحیح حدیث کښې ثابته ده چې ده فرمایلي دي: داسې یو سړی نشته چې دی د خپل ورور له پاره په غیاب کښې دُعا کوي مګر دا چې الله پاک هغې له یوه فرښته مقرره وي چې هر وارې دی د خپل ورور له پاره کومه دعا کوي نو د غه مقرره شوی فرښته وائي: آمین او ستا له پاره دې هم دو مره وي.

په یو بل حدیث کښې راغلي دي: «اَسْرَعُ الدُّعَاءِ دعوة غائبٌ لغائبٍ» (۱) یعنې ډیره زیاته د قبول د دعا په غیاب کښې د یو چا له پاره دعا کول دي.

پس د بل له پاره په دعا غوښتلو سره داعي (دعا کونکی) او مدعوٌّ لهٔ (د چا له پاره چې دعا غوښتل کیږي) دواړو

---

(۱) منذري، ذهبي، او څو نورو حدیث پوهانو د غه حدیث ضعیف بللي دي.

Downloaded from: ketabton.com

ته ګټه رسیږي اګرچې دعاکونکی په دې به کینې د هغه چا چې دعا ورته غوښتل کیږي نیت هم وي، له دې امله مؤمن چې کله دخپل ورور په حق کښې کومه دعا کوي نو په هغې سره هم ده ته فائده حاصلیږي او هم پرې هغه چا ته فائده رسیږي چې دعا ورله غوښتل کیږي۔

پس چاچې بل ته وویل: زما له پاره دعا وکړه او په دې سره یې خپل ځان او دعاکونکی دواړو ته ګټه رسول مقصد وو، نو دې او هغه مسلمان ورور یې دواړه د نیکۍ او تقوی په برخه کښې د یو بل مرستیالان وګرځیدل ځکه ده خپل دعاکونکی ورور د مطلوب په لور وهڅاوه او د هغه څه تر سره کولو ته یې متوجه که چې د دواړو له پاره پکښې فائده او ګټه ده۔

پس غوښتونکی په دعا سره د داسې فعل چې دواړو ته پکښې فائده وي د هغه چا په شان دی چې بل ته په نیکۍ او تقوی سره امر کوي چې بیا مامور ته د دغه عمل په انجامولو سره هم ثواب رسیږي او آمر ته هم د ګ د ثواب په اندازه ثواب حاصلیږي ځکه چې د دغه مامور یې دی نیک عمل ته رابللی دی، او بالخصوص د هغو دعاګانو په برخه کښې لکه چې الله تعالی فرمایلي دي بنده مامور کړی ځولي شوی دی: (وَاسْتَغْفِرْ لِذَنبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَ الْمُؤْمِنَاتِ) (۱)

(۱) سورة محمد: ۱۹

Downloaded from: ketabton.com

ترجمه: او بخښنه او غواړه د ګناه خپلې او د پاره د مؤمنانو سړیو او مؤمنانو ښځو په دې کښې الله پاک په استغفار سره امر کړی دی او بیا یې فرمایلی دی:

وَلَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَّلَمُوْا اَنْفُسَهُمْ جَآءُوْكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللّٰهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ لَوَجَدُوا اللّٰهَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا

(۱) - ترجمه: او که چیری دا لې له کوم وخت چې ظلم وکړه دوی په ځانونو خپلو داغلی وی تا ته پس بخښنه غوښتی وی دوی له الله څخه او بخښنه غوښتی وی پیغمبر د دوی له پاره نو خامخا به موندلې وو دوی الله تعالی لره ښه قبلونکی د توبې ډېر رحم والا.

په دې آیت کښې الله پاک دعا موخلقو د استغفار او د دوی په حق کښې یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د استغفار دواړو ذکر کړې دی، او په هغه بل آیت کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د دعا امر شوی دی چې دعا د مؤمنانو سړیو او مؤمنانو ښځو له پاره بخښنه او غواړه ولې دا خبره دیاوونې وړده چې الله پاک مخلوق ته د دعا امر نه دی کړی چې دوی دعا نه مخلوق له پاره د دا سې شی سوال وکړي چې الله پاک مخلوق ته په هغې سره د سوال کولو امر نه وی کړی بلکښې الله پاک چې بنده ته د کوم شي امر کړی دی هغه فعل دی او که ترک دی تعمیلول یې د الله تعالی عبادت او طاعت دی

---

(۱) سورة النساء: ع ۲

Downloaded from: ketabton.com

او د فابل په حق کښې د اصلاح، سعادت او دغه راز الله تعالی ته د نږدې والي وسیله او سبب دی.

پس کله چې دی دغه فعل تر سره کړي نو د الله پاک د لوړې د لوی احسان او انعام د پیژندنې مستحق وګرځي او د ټولو نه ستر احسان چې الله پاک په بندګانو باندې دهغې پیژندنه کړې ده هغه د ایمان د قبلولو په برخه کښې ورته هدایت او توفیق ورکول دی چې د دغه ایمان د قول او عمل څخه عبارت دی او د طاعتونو او نیکیو په کولو سره زیات والی مومي، نو هر کله چې بنده د خیر کار ونیک عمل وکړي، نو په ایمان کښې یې زیات راشي او دا هغه حقیقي انعام دی د کوم یادونه چې د الله تعالی په دې مبارک قول کښې شوې ده:

(صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ) (۱)

ترجمه: لاره د هغو کسانو چې تا انعام کړی دی په هغوی باندې. او دا رنګه د الله تعالی په دې قول کښې یادونه شوې ده:

(وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَٰئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ) (۲)

ترجمه: او هر څوک چې د الله او د الله د رسول ومني نو دغه کسان به (په جنت کښې) د هغو کسانو سره وي چې

---

(۱) فاتحه: ۷ (۲) نساء: ۶۹

Downloaded from: ketabton.com

انعام کړی دی الله پرعفوی باندی .

اما دا خبره چی د دنیا نعمتونه پرته له دین څخه نعمتونه دی او که نه دی، په دیکښی زمونږ د مسلک د علماوو او نورو علماوو دوه مشهور قوله دی چی تحقیق له مخی د نیوی نعمتونه من وجه نعمتونه بلل کیږی اګرچی من وجه تامه نعمتونه نه شمیرل کیږی .

ولی دینی نعمتونه کوم چی حصول یی په کار دی دا هغه څه دی چی الله پاک یی په کولو سره امر کړی دی او د واجبو او مستحبو څخه عبارت دی، پس دا د خیر هغه امور دی چی طلب یی د مسلمانو په اتفاق سره ضروری خبره ده، او دا هل السنة والجماعة په نزد باندی اصلی او حقیقی نعمت دی، ځکه د دوی په نزد باندی الله هغه ذات دی چی بنده ته یی نعمت د نیک عمل په ترسره کولو سره حاصلیږی .

په دی ځای کښی مقصد دا دی چی الله پاک مخلوق ته لا د الله څخه د مخلوق په برخه کښی اصول د هغه څه په باره کښی د سوال کولو امر کړی دی چی په هغی کښی د مخلوق له پاره خیر او فائده وی چی هغه یا واجب دی یا مستحب دی ځکه چی الله تعالی مخلوق څخه د دینه پرته بل څه نه غواړی، پس بل چا ته یه څنګه اختیار

Downloaded from: ketabton.com

ورکړي له دې څخه چې دی د دینه د واجبو او مستحبو نه
په غیر بل څه وغوښتل شي! بلکښي الله تعالی په بنده
د ضرورت نه پغیر د بنده څخه د مال غوښتل هم حرام
او ممنوع کړ ځولی دی -

او س په دی لړکښي د د عا غوښتونکی نیت ته کتل
پکار دی چي نیت ئي څه شی دی، که مقصد یې په دعا سره مامور
بالدعاء (د عاکونکی) ته او یاد ځان او دعا کونکی دواړو
له پاره فائده رسول وي، نو په دی سره د دعا غوښتونکی
ته ثواب حاصلیږي، او که چیرته یوا ځې خپل مطلب حاصلول
یې مقصد وي له دې چي مامور بالدعاء (دعاکونکی) ته یې
څه ورسیږي، نو دا یواځې د ده د نفس تقاضا پوره
کول دي او بس -

په دغه ډول سوال کولو سره الله پاک بیخي امر نه
کوی، بلکښي د دغه راز سوال څخه یې نهی کړی ده ځکه
چي دا د مخلوق په حق کښي دا سې یو سوال دی چي د چا
له پاره پکښي د مصلحت او ګټې د سولو کوم قصد نه دی
شوی، او حال دا چي الله پاک مونږ ته امر کوی چي ده ته
راجع شو، بنده ګی یې وکړو او د بندګانو سره یې په نیکۍ
او احسانات کولو سره مشغول او وسو -

په دغه ډول سوال کښي د د غو مقاصدو څخه د یو
قصد هم نه دی شوی نه پکښي الله تعالی ته د راجع کیدو

Downloaded from: ketabton.com

دعا او صلوة قصد شوی دی او نه یکښې مخلوق سره احسان کول، لکه زکوٰة اداکول شو په نظر کښې نیول شوی دی.

اگرچې بنده د دغه ډول سوال په کولو سره نه گناه گاریږی اما بیا هم مامور به، او ما یؤذن له فیه، یعنې هغه شی چې بنده ته یې د کولو امر شوی دی، او هغه شی چې بنده ته یکښې صرف اجازه حاصله ده یو شان نه دی بلکښې د واړه په منځ کښې یو د بل سره توفیر او فرق لری.

د مثال په توگه استرقاء، یا د دم اچولو غوښتنه شوه، ځکه د غه کار اگرچې جائز دی خو بیا هم رسول الله صلی الله علیه وسلم په یو حدیث کښې فرمایلی دی: آو یازره کسان داسې دی چې بې له حساب څخه به جنت ته داخلیږی او صفه دا خوك دی چې استرقاء یعنې د رقیې او دم طلب نه کوی ر مقصد دا دی چې، د دی د ضرورت په وخت کښې د رقیې د طلب څخه کوم چې صرف ما یؤذن له فیه دی او د رخصت په درجه کښې قرار لری د وسیلې په توگه استفاده نه کوی بلکښې د توکل څخه کوم چې اعلی او لوړه درجه مقام لری کار آخلی.

د شیخ الاسلام ابن تیمیه رح وایي: د دی مسئلې په هکله مابل ځای کښې په تفصیل سره بحث کړی دی او په

Downloaded from: ketabton.com

دی ځای کښې مقصد دا دی چې هرڅوک د الله او د الله د مخلوق ترمنځ داسې واسطې ثابته وي لکه څرنګه چې د مجازي پاچایانو او رعیت ترمنځ وجود لري، نوهغه د دغه عقیدې په لرلو سره د اسلام څخه خارجیږی او مشرک ګرځي، ځکه دا د هغو مشرکانو عقائد وو چاچې د بتانو عبادت او بندګي کوله او ویل به یې:

دا (بتان) دانبیاوو او نیکانو بندګانو تصاویر او شکلونه دي او الله ته د تقرب حاصلولو له پاره زموږ وسیلې دي!

همدارنګه دا هغه ډول شرک دی چې الله تعالی د هغې په وجه په نصرانیانو باندې رد کړی دی او فرمایلي یې دي:

((اتَّخَذُوٓا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَآ أُمِرُوٓا إِلَّا لِيَعْبُدُوٓا إِلَٰهًا وَاحِدًا لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ سُبْحَٰنَهُۥ عَمَّا يُشْرِكُونَ)) (۱)

ترجمه: اختیارمند جوړ کړي دي، دوی ملایان او پیران خپل دا حکامو (د حلالوا وحرامو) په غیر د الله تعالی نه، او مسیح ځوی د مریم او حکم نه وو شوی دوی ته مګر دی ته چې بندګي دې وکړي دوی خاص د معبود کاریو، نشته دی لائق او حقدار د بندګي په غیر له ده نه، پاک دی الله تعالی د هغې نه چې دوی یې ورسره شریک ګرځوي.

---

(۱) سورة التوبة : ۳۱ -

Downloaded from: ketabton.com

د غه راز د الله تعالی څخه په مستقیمه توګه د سوال کولو په برخه کښی الهی فرمان داسی راغلی دی :

(وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ ۖ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ) . (۱)

ترجمه: او هر کله چی پو ښتنه وکړی له تا څخه بندګان زما له حال زما څخه نو بیشکه زه نژدی یم قبلوم د عاد دعا کونکی کوم وخت چی وغواړی له ما څخه پس و د منی حکمونه زما او ایمان دی راوړی پر ما یقین دی وکړی په قبول د دعا سره) بنایی چی د دی په سمه لاره محکم پاتی شی -

همدارنګه الله تعالی فرمایلی دی .

(فَإِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَارْغَبْ - (۲)

ترجمه: پس کله چی فارغ شی (د تبلیغ یا لمانځه څخه) نو ځان ستړی کوه (په عبادت یا دعاء کښی) او خپل رب ته رغبت او زاری کوه -

همدارنګه الله تعالی فرمایی : (وَإِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فِي الْبَحْرِ ضَلَّ مَنْ تَدْعُونَ إِلَّا إِيَّاهُ) (۳)

ترجمه: او کله چی تکلیف ورسیږی تاسو ته په دریاب کښی نو هیر شی ستاسو نه هغه څوک چی تاسو یی په حاجتو کښی په غیر د الله تعالی نه را بولئ - او همدارنګه الله تعالی

(۱) بقره : ۱۸۶ (۲) الم نشرح : ۷-۸ (۳) الاسراء : ۶۷

Downloaded from: ketabton.com

فرمایلی دی:

(اَمَّنْ يُّجِيْبُ الْمُضْطَرَّ اِذَا دَعَاهُ وَ يَكْشِفُ السُّوْٓءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَآءَ الْاَرْضِ) - (۱)

ترجمه: بلکښی هغه څوك (غوره دی) چی قبلوی سوال د عاجز (بیکس او ناقرار) کله چی اوبولی دغه مضطر هغه الله اولری کوی سختی او گرځوی الله تاسو لره خلیفه گان په زمکه کښی.

دغه راز الله تعالیٰ فرمایلی دی:

يَسْئَلُهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِيْ شَاْنٍ) (۲)

ترجمه: سوال کوی د الله تعالیٰ څخه هر هغه څوك چی په آسمانونو او ځمکه کښی دی هره ورځ الله په یوبل شان کښی دی.

په الله باندی توکل او ویوازی د الله تعالیٰ څخه ویره او امید سانل د توحید څخه عبادت دی

شك نشته چی الله پاك د خپل مبارك کتاب په ذریعه سره هم د شرك جرړی قطع کړی دی او هم یی په دغه کتاب کښی د توحید د دغه ډول پوره وضاحت او بیان کړی دی، او د ا په دی خاطر چی هیڅ یوکس د الله تعالیٰ څخه پرته په بل

---

(۱) نمل: ۶۲ - (۲) رحمٰن: ۲۹ -

Downloaded from: ketabton.com

هیڅ چا باندې توکل وکړي، نه ترینه امید وساتي او نه ترینه ویریږي، الله تعالیٰ په دې هکله داسي فرمایلي دي:

(فَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ وَاخْشَوْنِ وَلَا تَشْتَرُوا بِآيَاتِي ثَمَنًا قَلِيلًا ط (١)

ترجمه: پس مه ویریږئ تاسو د خلقونه او ویریږئ له ما څخه او مه اخلئ څما په آیاتونو باندې یو له لږه (دنیا)

همدارنګه الله تعالیٰ فرمایلي دي:

(إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ الشَّيْطَانُ يُخَوِّفُ أَوْلِيَاءَهُ) یعنی دغه جاسوس یقیناچي شیطان دی تاسي د خپلو ملګرو څخه ویره وي. (فَلَا تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ) (٢)

پس مه ویریږئ له هغوی نه، او له مانه ویریږئ که چیري یئ تاسي مؤمنان. یا څکه چي تاسو مؤمنان یئ.

همدارنګه الله تعالیٰ فرمایي:

(أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ قِيلَ لَهُمْ كُفُّوا أَيْدِيَكُمْ وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ إِذَا فَرِيقٌ مِنْهُمْ يَخْشَوْنَ النَّاسَ كَخَشْيَةِ اللَّهِ أَوْ أَشَدَّ خَشْيَةً) - (٣)

ترجمه: آیا نه دې کتلي تا رندې رسیدلي تا ته حال د هغو کسانو چي وو ویلي شو دوی ته: بند کړئ تاسو لاسونه خپل او قائموئ یعني سم اداکوئ لمونځ او ورکوئ تاسي زکوة

(١) مائده: ٤٤ - (٢) آل عمران: ١٧٥ - (٣) النساء: ٧٧

Downloaded from: ketabton.com

نو کله چې قرض کړی شو په دوی باندې جنګ، په دې وخت کښې
یوه پوله له دوی نه ویریږي له خلقونه په شان د ویرې
د دوی د الله نه، بلکښې ډیر زیات د ویرې له دنه.

دغه رسول الله پاک فرمایلي دي.

(انما یعمر مسجد الله من امن بالله والیوم
الاخر واقام الصلوة واتی الزکوة ولم یخش
الا الله). (۱)

ترجمه: بیشکه چې آبادوي مساجد یعني جوماتونه د
الله تعالی هغه څوک چې ایمان یې راوړی دی په الله او
په ورځ آخرت او سم یې اداء کړې دی لمونځ او ورکړې
یې دی زکوة او نه دی ویرې د لې مګر د الله نه یعني
په غیر د الله څخه د بل چانه نه دی ویریدلي.

پس دا خبره څرګندوه شوه چې اطاعت بـه د الله
او د الله د رسول دواړو کیږي، او دیره بـه یواځې د
یو الله څخه کیدای شي.

همدارنګه الله تعالی فرمایلي دي:

(ولو انهم رضوا ما اتهم الله ورسوله
وقالوا حسبنا الله سیؤتینا الله من فضله
ورسوله انا الی ربنا راغبون). (۲)

ترجمه: او که دوی خوشحاله شوی وای په هغه څه

---

(۱) التوبة: ۱۸ (۲) التوبة: ۵۹

Downloaded from: ketabton.com

چې ورکړې ؤ د دی ته الله تعالیٰ او رسول د هغه، او دوی ویلي وای چې کافي (بس) دی مونږ لره الله تعالیٰ زر دی چې را به کړي مونږ ته الله تعالیٰ د فضل خپل نه او رسول د د غه الله (له بل غنیمته) -

او د الله تعالیٰ د دی قول نظیر د الله پاک د غه مبارک قول دی چې فرمایي:

(اَلَّذِیْنَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ اِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوْا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ اِیْمَانًا وَّ قَالُوْا حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِیْلُ) (۱)

ترجمه: دا هغه کسان دی چې وویلې دوی ته خلقو (جاسوس) یقینا خلقو یعنی کافرانو را ټول کړي دی ستاسی د مقابلې له پاره ډیر لښکرونو ویریږئ له دوی نه پس د غه ویرو لولانو یات کړ ایمان د دوی، او دویل دوی: بس دی مونږ لره الله تعالیٰ او دی ښه کارساز دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل امت ته د توحید د غه قسم په کامله توګه ثابت او روښانه که او د شرک ټول اسباب یې په خپل امت کښ محوه او نابود کړل او دا له دی امله چې د غه ډول توحید زمونږ د دی قول تثبیتونکی دی چې وایو -

(لا اله الا الله) نشته دی لائق د بندګی او عبادت

(۱) آل عمران: ۱۷۳ -

Downloaded from: ketabton.com

مګر یوالله دی یعنی دالله پاک نه په غیر بل څوک د عبادت او بندګۍ ورنه دی، ځکه (الله) هغه ذات دی چې زړونه ورته په کمال محبت، تعظیم، درښت، احترام، امید او خوف سره تسکین له پاره پناه وروړی -

رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې برخه کښې ډېرت زیات تاکید وکړ او حتی چې خپلو امتیانو ته یې وفرمایل: (لا تقولوا ما شاء الله و ما شاء محمد) یعنی داسې مه وایئ که دالله خوښه وی او د محمد ﷺ خوښه دی بلکښې داسې ووایئ: ما شاء الله ثم شاء محمد) که دالله خوښه وی او بیا د محمد ﷺ خوښه وی -

یو خل یو سړي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: که دالله خوښه یی او ستا خوښه یی، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: (اجعلتنی لله ندا)، آیا زه دې لله شریک وګرځولم؟ داسې ووایه: (ما شاء الله وحده) که د یوالله خوښه وی - (۱)

---

(۱) په اوسنی وخت کښې د ډېرو زیاتو خلقو د خولو څخه په ناپوهۍ سره دغه ډول ناروا اقوال زیات راووځي او بیا خصوصًا په هغه وخت کښې چې تملق او غوړه مالي ورسره مل شي نو داکار خاوندانو و هغو کسانو ته چې ورته په مادي لحاظ سره اړتیا لري په خطاب کښې وایي: خدای او ته به دا کار کوی، په خدای او تا باندې دا کار شو، که د خدای او ستا خوښه وی، نو دا کار کیږي، په خدای (پاتی ص ۷۱)

Downloaded from: ketabton.com

دغه راز رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی:
څوک چې لوړه (قسم) کوي نو هغه دې په الله سره قسم یادکړي او یا دا چې چُپ د دسي. همدا رنګه یې فرمایلي دي: چا چې د الله پاک نه په غیر په بل څه باندې لوړه وکړه نو هغه د شرک مرتکب وګرځېد یعنی د الله پاک سره یې شریک پیدا کړو -
دغه ډول رسول الله صلی الله علیه وسلم ابن عباس ته رضی الله عنه ته و فرمایل: کله چې سوال کوې نو د الله نه یې وکړه او کله چې د مرستې غوښتنه کوې نو د الله څخه مرسته غواړه او وچ شوي دي قلم، یعنی فارغ شوي دي د هغه څه د لیکنې څخه چې ځکینی دي را تلونکي دي، او ته ور سره ځنګ کېږې (یعنی کوم شی چې تاته د ر رسیږي هغه مقدر شوي دي) که ټول خلق تاته د نفع رسولو کوښښونه وکړي تاته کېږه نشي رسولی مګر هغه شی چې الله پاک ستا دپاره فائده له پاره لیکلی وي، او که چیرته ټول خلق د دې خبرې کوښښ وکړي چې تاته نقصان او زیان در ورسوي نو تاته نقصان نه شي در رسولی مګر هغه شی چې الله پاک ستا د ضرر له پاره لیکلی وي -

---

(یادګ صلا) او تا باندې مې سپارلی دی، خدای او تاته مې سپارلی دی. د دغه حدیث له مخې دغه ډول اقوال شرعاً نا روا دی ځکه ساتنه ورنه ضروري ده - (د ژباړن)

Downloaded from: ketabton.com

د غه ډول رسول کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:
زما د توصیف په برخه کښې د ومره افراط مه کوی
لکه څو مره چې نصرانیانو د عیسی بن مریم په برخه
کښې کړی ؤ، بیشکه زه بنده یم ما ته د الله بنده او
د هغه رسول ووایئ. همدا رنګه یې فرمایلي دي:
الله! ته زما قبر بُت و نه ګرځوې چې عبادت یې شروع شي
د غه ډول رسول الله فرمایلي دي: زما په قبر
باندې اختر (خوشالی او میله) مه جوړ وئ، پر ما باندې
درود ووایی، بیشکه ستاسې درود د هر ځای کښې چې
یاستې ما ته را رسیږي.
همدا غه ډول رسول الله صلی الله علیه وَسَلم د خپل
مرض په حالت کښې وفرمایل: په یهودو او نصاراؤ دې
د الله لعنت وی د دې د خپلو انبیاوو د قبرو نو څخه
مساجد جوړ کړی ؤ-ده خپل امت د هغه ډول افعالو
او مراسمو د اجراکولو څخه ویرولو کوم چې دیهودانو
او نصرانیانو له خوا په دې برخه کښې منځ ته راغلي ؤ.
اُمّ المؤمنین عائشه رضی الله عنها وایي:
که دا ویره نه وای چې خلق به بیا د رسول الله صلی
الله علیه وسلم د قبر نه مسجد جوړ کړی نو حتما به یې قبر
مکشوف یعنې ښکاره وای او کوم حائل یا پرده به یې
نه درلوده، لیکن دا بد کار دی چې قبر یې ښکاره شي او مسجد

Downloaded from: ketabton.com

تر بینه جوړ شی.[۱] «شیخ وایی» دا یو وسیع باب دی چې
زښت زیات دلائل پکښې وجود لري.[۲]

---

(۱) لکه چې په فتح الباري کښې ذکر دی مراد په دی سره
د کوړ څخه د باندی د فن کیدل دی.

(۲) ټول هغه احادیث چې معنایې مخکښې ذکر شوه د
سنن په لحاظ سره جید او کره دی.

(په روستنی حدیث کښې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم
په یهودو او نصاراؤ باندی لعنت ویلی دی سبب یې وساله
دا په گوته کړې دی چې دوی د خپلو انبیاؤ د قبرونو څخه
مساجد جوړ کړي ؤ، او بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل
صحابه او امتیان په دی برخه کښې د هغه دول افعالو د عملو
څخه ویرول کوم چې هغوی د خپل ځانه ایجاد کړي ؤ، بناءً
اوس په دی باندی ځان پوه ول په کار دی چې د (اِتَّخَذُوا
قُبُورَ انبیائِهِمْ مَسَاجِدَ) چې معنایې دا ده، دوی د خپلو
انبیاؤ د قبرونو څخه مساجد جوړ کړي ؤ، څه مقصد کیږی
شی ؟ -

شیخ محمد ناصرالدین البانی د دغه (اتخاذ) یا مسجد
جوړولو په باره کښې په (تحذیر الساجد من اتخاذ القبور مساجد)
نومی خپل تصنیف کښې مفصل او په زړه پوری بحث کړی
دی او د موضوع په اړه یې یو زیات شمیر احادیث په مختلفو
روایاتو او عباراتو سره رانقل کړی دی او بیایې د غـه

Downloaded from: ketabton.com

(اتخاذ) دعلماؤ او محدثينو د اقوالو په رنړا کښې په درې ډوله داسې معنا کړې دي:

۱ - په قبرونو باندې لمونځ کول يعنې په قبرونو باندې سجده ايښودل.

۲ - قبرونو ته سجده کول او په لمانځه او دعا کښې ورته مخامخ کيدل.

۳ - په قبرونو باندې جوماتونه (مسلجد) جوړول او په کښې د لمانځه د آداء کولو قصد او اراده.

شيخ البانى داهم ليکلى دي چې امام شافعي (رح) ويلي دي چې حديث دغو درې واړو معناګانو ته شامل دى.

د دغه رسالى د ښارونکى په نظر چې د دغه دريواړو معناګانو څخه هره يوه واضحه شى په او سنى وخت کښې د هرې يوې له پاره مصداق وجود لري ځکه داسې جوماتونه وجود لري چې په مقبرو کښې په قبرونو باندې د پاسه آباد شوي دي، او خلك پکښې لمونځ ادا کوي.

د غه راز ډير جوماتونه دي چې په اديرو کښې او د نورو ځايونو کښې د قبرونو په منځ او د يا خوا و شاکښې جوړ شوي دي، او دغه ډول په ځنو مسجدونو کښې د بعضو پيرانو، اخوندانو او ملا امامانو مړي د ځنو خود غرضو اشخاصو له خوا د فن کيږي چې اکثره يې په لمانځه او دعا کښې د قبلې په لورې مخې ته واقع کيږي.

Downloaded from: ketabton.com

دارنګه په مقبرو، دراګانو او په اصطلاح زیارتونو کښې سجده او انحناء او د قبرونو ښکلول او هم کول د قبر پرستو او زیارت پرستو له خوا یوه عادي مسئله ګرځیدلې ده. په دې هکله د دې زیات تفصیل له پاره د شیخ البانی کتاب (تحذیر الساجد من اتخاذ القبور مساجد) ته مراجعه وشي الله پاک دې مونږ ټولو مسلمانانو ته د سمې لارې هدایت وکړي، او د هر ډول شرک او ناروا اعمالو څخه مو دې په امان کښې وساتي).

(ژباړن)

هغه اسباب چې الله پیدا کړي دي انکار ترې نشي کیدای

مؤمن سړی له دې چې په دې باندې علم لري چې الله پاک د هر شي پالونکی او مالک دې، خو دی سره سره دې د هغو اسبابو څخه چې الله تعالی پیدا کړي دي انکار نکوي د مثال په توګه (الله ج) د نباتاتو د را ټوکولو او زرغونولو له پاره لکه چې فرمایي باران یې سبب ګرځولی دی -

(وَمَآ اَنْزَلَ اللهُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ مَّآءٍ فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيْهَا مِنْ كُلِّ دَآبَّةٍ) (۱)

---

(۱) بقره: ۱۶۴ -

Downloaded from: ketabton.com

ترجمه: او په هغه څه کښې چې را ورولي دي الله تعالیٰ د آسمان له طرفه له او بو څخه نور زرعونه کرېږي د ه په هغوا و بو سره څکه پس د دې والي د هغی نه او خپاره کړي يې دي په دې څکه کښې له هر قسمه ژندهٔ سریعني خوځیږ د- ستبکو څخه -

د غه راز لمر او سپوږ مۍ د هغه شیانو له پاره اسباب گرځولي دي د کومو د جو دچې د دغو دواړو يعني لمر او سپوږمۍ پو دی اړه لري -

د غه ډول يې دعا او شفاعت په هغه څه کښې چې په دعا او سفارش سره حاصلیږي اسباب گرځولي دي -

د مثال په توگه په ډېرو ياندې د مسلمانانو له خوا د جنازې د لمونځ اداکول شول، څکه د جنازې لمونځ د هغوا سبابو د جملي څخه دی چې الله پاک د هغی په توسه سره پر مړي باندې رحم کوي او په دغه مړي باندې د جنازې د لمانځه اداکونکو ته ثواب ورکوي -

اما په اسبابو کښې د ری تکو ته متوجه کيدل په کار دي

یو داچې د مقصد د حصول له پاره په خاص ډول سره کوم خانکړي سبب په پام کښې ونه نیول شي بلکښې د دغه سبب په څنگ کښې د نورو اسبابو څخه هم استفاده کول ضروري دي او د دي سره سره د مطلوب د لاسته راوړلو په لاره کښې څني خنډونه هم وي چې د هغي لري کول هم ضروري

Downloaded from: ketabton.com

وی نو که چیرته اسباب بشپړه نه شی او خندان له منځه لاړ نشی مقصد نه حاصلیږی» او الله (ج) چی پاك اومنزه دی هغه څه لره چی خوښه یی وی هغه پیدا او شته کاندی اګرچی د خلقو خوښه نه وی، او کوم شی چی د خلقو خوښې وی نو د هغې وجود هله ممکن کرځی چی الله پاك یی د پیدا کیدو اراده وکړی.

دوییم دا چی دیوشی په سببیت باندی عقید ساتل بی له دی چی په سببیت باندی علم ولری، ممنوع امردی، پس هغه څوك چی دیو داسی شی سببیت ثابته وی چی یاور باندی علم نه لری او یا هغه د شریعت مخالف وی هغه په باطله لاره روان دی، لکه هغه شخص چی د نذر متعلق په دی کمان اوسی چی نذر د مصیبتو نو د مخ نیوی او د نعمتونو د حصول په برخه کنبی یو سبب دی، ځکه په صحیحین کنبی د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابته ده چی رسول الله صلی الله علیه وسلم د نذر د منلو څخه منع کړی ده او فرمایلی یی دی: نذر منونکی د نذر په اداکولو سره کوم غوره عمل نه ترسره کوی بلکښی نذر صرف د بخیل د لاسه د مال د خروج او وتلو یوه لاره ده.

دریم دا چی دینی اعمال کوم چی مشروع نه وی د اسبابو د جملی څخه نه حسابیږی، ځکه چی مبنی د عبادتو توقیفی ده، یعنی د شارع څخه د سمع او نقل پوری اړه لری پس انسان

Downloaded from: ketabton.com

له پاره دا جائز ندي چې دي دالله پاك سره شريك مقرر کړي، او د الله تعالیٰ څخه په غير بل چاته را مدد شه ووايي او ورته دې يې بلې او عبادت يې ور له پيل کړي، اګرچې دي په دې ګمان اوسي چې د غير الله بلنه د ده له پاره د خپلو مقاصدو د لاس ته راوړلو په برخه کښې سبب جوړي دای شي. له همدې امله هغه طريقې چې د شريعت مخالفې او بدعت دي د الله تعالیٰ د عبادت په برخه کښې وربانديې دانسان له پاره عمل ترسره کول اګرچې دي پرې د شريعت ګمان هم کوي، ممنوع او ناروا دي.

دا خبره هم په پام کښې نيول په کار دي چې کله کله دانسان سره د خپلو مقاصدو په لاس ته راوړلو کښې هغه وخت چې دي د الله تعالیٰ سره شريك مقرر کاندي شيطان مرسته کوي، او کله کله دانسان ځنې حاجتونه د کفر، فسق، او عصيان په وجه سره حاصليږي خود ده له پاره د دغو اعمالو انجامول حرام او ناروا دي ځکه کوم فساد چې د دغه افعالو په ارتکاب سره منځ ته راځي هغه ډير لوی دی په نسبت سره هغه مصلحت ته چې د دغو ناروا اعمالو په انجامولو سره منځ ته راځي.

او دا ځکه چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د بعثت مقصد د مصالحو تحصيل او تکميل او د مفاسدو تقليل، او له منځه وړل دي پس الله پاك چې په کوم شي سره امر کړی دی

Downloaded from: ketabton.com

نو د هغې د فائدې او گټې د سولو او خړ راجع او ښایست متصور دی او د کوم شی څخه چې یې منع کړې د ه نو په هغې کښې د فساد د منځ ته را تلو جانب راجع او ډیر متصور دی -

دا یو څو جملې دي چې زښت زیات بسط او تفصیل لري، خو دا چې په دغو محدودو پاڼو کښې نه ځائیږي نو په لنډو ول سره و د باندې را نقل شوه

والله اعلم

وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد وعلی آله واصحابه اجمعین ط

Get More e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com - ebooks library